معلومات متذکره می‌تواند مستقیماً بالای ویال‌های نمونه ویاهم در پوش ظرف سومی طوری تحریر گردد که در جریان انتقال پاک نه‌شود. بنابرین لیبل ها باید طوری محفوظ گردند که عوامل محیطی و مواد سردکننده آنرا تخریب و ازبین نبرد.

### d. معلومات و اسناد که با نمونه‌ها فرستاده می‌شوند

ضروری است تا هر نمونه به شکل جداگانه با روش های مناسب شناسایی گردند. معلومات مرتبط و تاریخچهٔ بیمار باید همراه نمونه به لابراتوار فرستاده شوند و این معلومات باید در یک خریطهٔ پلاستیکی چسپ دار بیرون از ظرف نمونه در بین ظرف دومی و سومی قرار داده شود. باوجودیکه موارد ذیل باید شامل معلومات ارسالی باشد، اما بهتر است به لابراتوار گیرنده نمونه در این مورد مشوره شود که اگر آنها فورم ارسالی نمونه داشته باشند، باید همان فورم بعد از جمع آوری نمونه خانه پوری و همراه نمونه ارسال گردد. در بخش وترنری معلومات ذیل بسیار ضروری است.



1. نام و آدرس صاحب فارم و محل جغرافیایی که بیماری رخ داده، همراه با نمبر تلفون ویا موبایل فارم دار
2. نام، آدرس پوستی و ایمیل و نمبر تلفون فرستنده
3. سن و جنس، نوع، نسل حیوانات نمونه گیری شده
4. بیماری مشکوک و آزمایشات مورد نیاز
5. تاریخ که نمونه جمع آوری و ارسال شده است
6. لیست نمونه‌هایکه ارسال شده و در صورت استفاده، نام وسط انتقالی استفاده شده
7. تاریخچه مکمل حیوانات و بیماری مورد نظر در ساحه، البته در این بخش معلومات زیر ضرور است:

- لیست و توضیح مکمل حیوانات معاینه شده و تغییرات بعد از مرگ حیوانات تلف شده
- مدت زمانیکه حیوانات بیمار در فارم موجود بوده، و اگر حیوانات بیمار تازه وارد بوده، منشأ این حیوانات
- تاریخ اولین مورد بیماری و واقعات بعدی با تاریخچه قبلی اینگونه واقعات
- یک توضیح روش احتمالی انتشار بیماری به گله یا رمه
- تعداد مجموع حیوانات موجود در گله، تعداد بیماران، تعداد تلف شده‌ها، تعداد دارای علایم با تفکیک سن و جنس آنها
- علایم کلینیکی بیماری و دوام این علایم به شمول درجه حرارت حیوانات بیمار، حالت دهن، چشم ها، پاها و ارقام تولید شیر ویا تخم در مرغها
- نوع مالداری به شمول نوع تغذیه و تماس احتمالی با زهرها و نباتات زهری
- تاریخچهٔ سفر خارجی صاحب فارم ویاهم داخل نمودن حیوانات از دیگر کشورها و مناطق
- تطبیق کدام دوا به حیوانات بیمار و این دوا چه وقت تطبیق شده
- کدام واکسین اگر تطبیق شده باشد، و اگر شده چه وقت تطبیق کرده است.

### e. انتقال ناحیوی نمونه‌های بیولوژیکی

تمام نمونه‌های جمع آوری باید به زودترین فرصت و از نزدیک راه به لابراتوار فرستاده شوند. اگر نمونه‌ها در جریان 48 ساعت به لابراتوار برسد، باید تمام نمونه‌ها در شرایط سرد فرستاده شوند. در صورت استفاده از یخ خشک، بسته بندی نمونه باید مطابق این ماده صورت گیرد. برای انتقال هوایی تمام شرایط مطابق قواعد بین المللی قابل تطبیق است (SOP مرتبط را مشاهده کنید). به صورت عموم قواعد ذیل در هنگام انتقال نمونه به شکل ناحیوی باید عملی گردند:

- از ظروف نمونه نباید مواد انتشار یابد
- اگر نمونه در یک تیوب ارسال شده، سرپوش آن باید خوب بسته شده و توسط رابرتیپ محکم شود وبه شکل ایستاده در بسته بندی نمونه قرار داده شود.
- بهتر است برای گذاشتن نمونه از ظروف پلاستیکی مستحکم دارای سرپوش پیچی استفاده شود
- بسته انتقالی باید در وسیله انتقالی خوب مستحکم گردد
- هر بسته انتقالی مطابق محتوای داخلی آن به شکل مناسب لیبل زده شود.
- فورم‌های درخواستی لابراتوار و معلومات اضافی باید همراه نمونه‌ها فرستاده شوند.

## f. پلان انتقال نمونه‌ها

این مسوولیت فرستنده است تا تمام مواد عفونی و مواد تشخیصی را به شکل درست بسته بندی و لیبل زده و تمام اسناد لازم را فراهم سازد. اما قبل از انتقال مواد بیولوژیکی تمام نکات زیر باید عملی گردد:

- پروسیجر های حالات عاجل (به طور مثال، نام و معلومات شخص مسوول، پاک کاری ریختن نمونه، پروتوکول های ضدعفونی و غیره) باید برای شخص انتقال دهندۀ مواد معلوم باشد.
- ظروف باید برای مواد که انتقال می‌گردند، مناسب باشند.
- مواد باید طوری بسته بندی گردند که در جریان انتقال به شکل ایستاده قرار گیرند.
- ظروف نمونه باید به شکل مناسب لیبل زده شوند
- لباس محافظت شخصی در جریان بسته بندی مواد پوشیده شوند
- دست ها پس از بسته بندی مواد با آب و صابون شسته شوند
- کسانیکه در دست های شان زخم باز ویا خراشیدگی دارند، نباید در پروسه اشتراک نمایند، اما اگر اشتراک می کنند باید لباس محافظتی داشته باشند.
- از تولید ایروزول در جریان جابجایی و بسته بندی نمونه جلوگیری گردد.
- شخصی که مواد را بسته بندی می‌نماید باید اطمینان حاصل نماید تا سطوح بسته عاری از مواد داخل بسته باشد.

انتقال و حمل موثر نمونه‌های بیولوژیکی نیازمند هماهنگی خوب میان فرستنده، انتقال دهنده و گیرنده است تا اطمینان حاصل گردد که نمونه به شکل سریع و مصوون انتقال گردیده و در زمان مناسب و حالت خوب به لابراتور برسد. هر سه طرف مسوولیت های خاص خود را دارند.

- **فرستنده**

1. هماهنگی قبلی با گیرنده نمونه باید صورت گیرد
2. هماهنگی قبلی با انتقال دهنده نمونه باید صورت گیرد تا اطمینان حاصل گردد که:
   - مواد انتقالی برای انتقال قبول شود
   - محموله باید به سریع ترین شکل ممکن و از کوتاه ترین راه باید به لابراتور انتقال گردد و نباید در روز های رخصتی هفته مانند روز جمعه به لابراتور برسد
3. تمام اسناد لازم را برای انتقال دهنده فراهم سازد
4. به گیرنده زمانیکه تمام تنظیمات صورت گرفت، قبل از رسیدن نمونه اطلاع دهد

- **انتقال دهنده**

1. به فرستنده تمام اسناد را برای انتقال مواد فراهم ساخته و کمک اش نماید تا آنها را به شکل درست تکمیل و خانه پوری نماید.
2. به فرستنده توصیه‌های لازم را در بارۀ بسته بندی درست ارائه نماید
3. به فرستنده کمک نماید تا راه درست انتقال محموله را انتخاب و تائید نماید.
4. تمام اسناد لازم را برای حمل و انتقال حفظ نماید.



## g. پروسه پاک کاری چپه شدن نمونه (spill cleanup procedure)

پس از رخداد حادثه چپه شدن مواد بالقوه عفونی، پروسه های ذیل پاک کاری باید عملی گردند:

1. لباس محافظتی به شمول دستکش، ماسک، عینک و در صورت نیاز دیگر وسایل محافظتی را بپوشید
2. محل چپه شدن مواد را توسط یک پارچه ویا دستمال کاغذی بپوشانید
3. مقدار کافی مواد ضدعفونی را بالای دستمال کاغذی ویا پارچه مربوطه و اطراف آن انداخته (معمولاً محلول 5% سودیم هایپوکلورایت مناسب بوده، اما در صورت چپه شدن مواد در طیاره، از مواد ضدعفونی quaternary ammonium باید استفاده شود
4. ابتدا مواد ضدعفونی را در اطراف محل چپه شده علاوه نموده و به طرف مرکز حرکت دهید
5. پس از سپری شدن در حدود 30 دقیقه، مواد را از ساحه پاک کنید. اگر همراه مواد وسایل شیشه‌یی مانند تیوب ویا دیگر وسایل نیز شکسته است، با استفاده از یک خاک‌کش ویا یک توته مقوای نازک آنرا جمع آوری نموده و در یک سطل زباله دانی مناسب بیاندازید.

## h. ذخیره و پروسس مواد بیولوژیکی

پس از رسیدن مواد به لابراتوار، آنها بازهم باید با احتیاط لازم تنظیم و جابجا گردند. درنظر گرفتن دوامدار همچو اقدامات احتیاطی احتمال مواجه شدن به عوامل بیماریزا را شدیداً کاهش می‌دهد. باوجودیکه اکثر وسط های باکتریایی به شکل مصوون در بالای میز لابراتوار کشت شده می‌توانند، اما بخاطر کاهش خطرات آلوده‌گی لابراتوار، کارمندان و جامعه این کار معمولاً در بیوسفتی کابینت اجرا می گردد. استفاده از بیوسفتی کابینت برای کشت نمونه‌های دارای مایکوباکتریوم توبرکلوز و دیگر عوامل انتقال شونده از طریق تنفسی اجباری است. زمانیکه عوامل بیماریزا در لابراتوار انتشار نمایند، خطر مبتلا شدن کارمندان به عفونت های مرتبط به لابراتوار افزایش پیدا کرده که در این زمینه عوامل بیماریزای مانند مایکوباکتریوم توبرکلوز، انواع بروسلا، فرانسسیلا تولارنسیز، یرسینیا پستیس، هستوپلازما کاپسولاتوم و یک تعداد دیگر بیشتر خطرناک تلقی می‌گردند. کلچرهای که احتمال موجودیت همچو عوامل در آنها وجود داشته باشد، صرف در بیوسفتی کابینت class II در تحت شرایط سطح 3 بیوسفتی کشت شده می‌توانند.

برای افزایش حساسیت آزمایشات تشخیصی، تمام نمونه‌های جمع آوری شده باید به شکل یخ بسته (در منفی 70 درجه سانتی‌گراد) و همراه یخ خشک انتقال گردند؛ به استثنای انساج تثبیت شده در فورمالین و نمونه‌های جمع آوری شده در تیوب‌های شیشه‌یی (خون مکمل، خون با EDTA ویا هیپارین، سیروم و غیره). اگر امکان یخ بستن نمونه‌ها امکان پذیر نباشد و این نمونه‌ها در جریان 1 تا 2 روز بعد از جمع آوری مورد ارزیابی قرار می‌گیرند، می‌توان آنها در 4 درجه سانتی‌گراد در یخچال گردند. نمونه‌های جمع آوری شده در تیوب‌های شیشه‌یی باید در 4 درجه سانتی‌گراد در یخچال نگهداری شده و همراه بسته‌های یخ انتقال گردند. شرایط انتقال و ذخیرۀ انواع مختلف نمونه‌های بیولوژیکی در جدول 1 توضیح شده است. نگهداری نمود. انساج تثبیت شده باید در بکس‌های جداگانه در حرارت اطاق جمع آوری و ذخیره گردند. نمونه‌های جمع آوری شده در تیوب‌های شیشه‌یی باید در 4 درجه سانتی‌گراد در یخچال نگهداری شده و همراه بسته‌های یخ انتقال گردند. شرایط انتقال و ذخیرۀ انواع مختلف نمونه‌های بیولوژیکی در جدول 1 توضیح شده است.

*یادداشت: مآخذ و ضمایم مربوطه در صفحات 62 و 70 نسخه اصلی انگلیسی موجود است.



# معیاري عملیاتي کړنلاره

# معیاري عملیاتي کړنلاره

## STANDARD OPERATING PROCEDURES (SOPs)

| |
|---|
| **د لابراتوار نوم:** |
| **د SOP عنوان:** د کیمیاوي پاتې شونو تنظیم، ځای پر ځای کول او له منځه وړل |

| | |
|---|---|
| **شمارهٔ سند:** | نسخه: ۰۰۱ |
| **مدیر مسوول:** | **تاریخ موثره:** ۰۱-۰۱-۲۰۲۱ |

| |
|---|
| **د دې SOP نور مربوطه اسناد (...)**<br>• د حیاتي خطر د مدیریت منوال<br>• د لابراتوار د پاکولو او ضدعفوني کولو لارښود<br>• د شخصي محافظت د وسایلو SOP<br>• د اوتوکلاف څخه د استفادې SOP |

| د بیا کتنې شمېره | تغییري شوې برخې | د تغییراتو توضیح | نېټه | تائید شوي په واسطه د |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

**لارښوونه:**

دا SOP د حیاتي خطر د مدیریت په برخه کې ټولې لارښوونې د بیولوژیکي خطرونو د ښه مدیریت په برخه کې عمومي قواعد او کلي ملاحظات تشریح کوي. دا لارښود په ټولیزه توګه په ټولو لابراتوارونو کښې د موجوده حالتونو او شرایطو سره برابر نده، نو باید د هر لابراتوار در شرایطو سره سم برابر شي.

په تشخیصي او تحقیقي لابراتوارونو کې مختلف ډوله کیمیاوي پاتې شوني تولیدیږي چې دا پاتې شوني د انساني، حیواني او محیطي صحت لپاره لوی ګواښ بلل ګیږي. سره له دې چې اکثره کیمیاوي پاتې شوني په ځانګړې توګه عضوي پاتې شوني چې ۱۰۰ سلنه د مختلفو صنعتي پروسو له لیاري پروسس کیږي او بیاځلي د استفادې وړ دي، له ۷۰-۵۰ سلنه غیرعضوي کیمیاوي پاتې شوني هم د استفادې وړ دي، مګر ځیني له هغو څخه بیاځلي د استفادې وړ ندي چې باید به مصوونه او ډاډمنه توګه بې خطره او یا هم له منځه یووړل شي. په ټولیزه توګه کیمیاوي پاتې شوني د جامداتو، مایعاتو او ګازاتو درلودونکي دي چې کیدای شي د سوخت وړ محللونه (لکه اسیتون الکولونه او نور)؛ زهري ترسبي مواد (لکه درانده فلزونه، حشره وژونکي) تخریشونکي

(corrosives) (هایدروکلوریک اسید، د پوتاشیم هایدرواکساید ساچمې)؛ غبرګون ښودونکي (reactives) لکه اوکسیدایزونه، سیانایدونه، سلفایدونه، انفجاریدونکي، بې ثباته مواد او له اوبو سره تعامل کوونکي مواد (د مثال په توګه فلزي سودیم، بنزویل پراکساید)؛ زهري مواد د میوټیجنونو په شمول، د سرطان تولیدونکي، حاد او یا مزمن زهري مواد (د مثال په توګه، کلوروفورم، ایتیدیوم برومایډ)؛ څو کلوریني بای فینایلونه (> ۵۰ ppm concentration) او د ګاز هغه ډبې چې د استفادې وړ نه دي.

- **موخه**

د دې سند د جوړولو هدف د عامې روغتیا او وترنرۍ په لابراتوارونو کې د پاتې شونو د تنظیم او له منځه وړلو لپاره د یو مشخص طرزالعمل جوړول دي تر څو چې د موادو راټولول، پېژندل، تفکیک، بسته بندي، لیبلول، ذخیره، لېږد او له منځه وړل په مناسبه توګه پلي شي تر څو کارکوونکي، ټولنه او چاپېریال د خطرناکو کیمیاوي موادو د بالقوه ککړتیا او مخامخ کېدو څخه وساتلی شي.

**برخه/پراختیا**

دا لارښود په ټولو هغو لابراتواري کارکوونکو چې د عامې روغتیا، وترنرۍ او یا هر بل تشخیصي او څېړنیز، دولتي او یا شخصي لابراتوار کې په افغانستان کې کار کوي د تطبیق وړ دی.

- **برخه/پراختیا**

دا لارښود په ټولو هغو لابراتواري کارکوونکو چې د عامې روغتیا، وترنرۍ او یا هر بل تشخیصي او څېړنیز، دولتي او یا شخصي لابراتوار کې په افغانستان کې کار کوي د تطبیق وړ دی.

- **مسؤلیتونه**
- مسؤل مدیر دې ډاډمن شي چې:
- دا SOP په سمه توګه تطبیقیږي
- کارکوونکو په دې برخه کې زده کړې ترلاسه کړې او مخکې له دې چې په لابراتوار کې په مستقله توګه کارونه مخته بوځي په ټولو مراحلو پوه شوي
- د لابراتوار کارکوونکي
- د دې SOP کې ټولې ځای پر ځای شوې لارښوونې تعقیبوي
- د هر ډول ستونزو د رامنځته کېدو په صورت کې به مسؤل مدیر په جریان پوه کوي .
- د لابراتوار آمر دې ځان ډاډمن کړي چې:
- د کیمیاوي موادو د تنظیم او له منځه وړلو لپاره ټول مصرفي مواد د هغوی د اړونده او مناسبو مشخصاتو سره غوښتل شوي
- د کیمیاوي موادو د تنظیم او له منځه وړلو لپاره ټول مصرفي مواد د هغوی د اړونده او مناسبو مشخصاتو سره سم موجود دي او په مناسبه توګه ساتل کیږي .

- **لومړني اقدامات**

a. مواد
- لومړني لوښي (کوچني او لوی پلاستیکي لوښي)



- دویمي لوښي
- د لیبل وهلو مواد
- د کیمیاوي موادو ډول او حالت ته په کتو سره د شخصي محافظت وسایل

b. وسایل
- کوره یا انکیوبیټر
- هوډ Hoods

c. فورمې
- د کیمیاوي موادو د لمنځه وړلو د درخواست فورمه

- **د کار د عملي کولو پروسه**

دا لارښود په ټولو هغو لابراتواري کارکوونکو چې د عامې روغتیا، وترنرۍ او یا هر بل تشخیصي او څېړنیز، دولتي او یا شخصي لابراتوار کې په افغانستان کې کار کوي د تطبیق وړ دی.

a. **د خطرناکو پاتې شونو ځانګړتیاوې**

هر هغه کیمیاوي پاتې شوني چې لاندې ځانګړتیاوې ولري د خطرناکو پاتې شونو څخه بلل کیږي:

۱. **د سوځېدو وړ ځانګړنه هغه پاتې شونو ته چې لاندې ځانګړتیاوې ولري استعمالیږي :**
- هغه مایعات چې د جوش نقطه یې له ۱۴۰ سانتي ګراد درجو څخه کمه وي
- هغه جامدات چې په نورمال فشار او حرارت کې د سوځېدو وړ وي
- اوکسیدایز کوونکي مواد
- د سوځېدو وړ متراکم ګازونه
- ایتانول، سودیم نایتریت، د هایدروجن ګاز، زایلین او اسیتون د دې ډول مواد بیلګې کیدای شي

۲. **تخریشونکي (Corrosivity) ځانګړنه هغه پاتې شونو ته چې لاندې ځانګړتیاوې ولري کارول کیږي:**
- اوبه لرونکي محلولونه چې pH یې کم یعنې ۲ او یا زیاد یعنې ۱۲.۵ وي
- دا ځانګړنه جامداتو او بې اوبو موادو لپاره د تطبیق وړ نده
- هایدروکلوریک اسید، نایتریک اسید، سودیم هایدرواکساید او داسې نور د دې موادو بیلګې ګڼلای شو.

۳. **غبرګون ښودونکي (Reactivity) ځانګړنه هغه پاتې شونو ته چې لاندې ځانګړتیاوې ولري کارول کیږي:**
- هغه مواد چې شدید عکس العمل ښیي او یا کله چې له اوبو سره یوځای شي زهري بړاس تولیدوي
- سیاناید او یا د سلفایدو لرونکي پاتې شوني چې له تیزابونو او قلوي ګانو سره تر یوځای کیدو وروسته په زهري بړاسونو تبدیلیږي
- هغه مواد چې معمولاً ثابت نه لري او یا منفجریدونکي دي
- فلزي سودیم، غبرګون ښودونکي سلفایدونه، پوتاشیم سیاناید او پیریک اسید د دې موادو له بیلګو څخه دي

۴. **زهري (Toxicity) ځانګړنه هغو پاتې شونو ته چې لاندې ځانګړتیاوې ولري کارول کیږي:**
- هغه مواد چې د ځمکې لاندې اوبو د ککړتیا بالقوه وړتیا ولري
- هغه مواد چې په ساحه کې د خپریدو په صورت کې مشخص زهري مواد له ځانه خپاره کړي

- تر اوسه له ۴۰ څخه زیات زهري ککړونکي پیژندل شوي چې ځینې مشخص درانده فلزونه (لکه، ارسنیک، باریوم، کادیوم، سرب، سیماب، نقره)، حشره وژونکي او عضوي مرکبات (لکه کلوروفورم، کریزول، کاربن تتراکلوراید) په هغو کې شامل دي.

### b. له وخت سره حساس کیمیاوي مواد

له وخت سره حساس کیمیاوي مواد هغه مواد او یا د هغوی محصولاتو ته ویل کیږي چې د اوږدمهالي ساتنې په صورت کې یې زیرنده خطرونه ډیریږي. پراکسایدونه (peroxidizables)، څو نایتریته اروماتیکونه (polynitrated aromatics)، کلوروفورم او بې اوبو هایدروجن فلوراید (anhydrous Hydrogen Fluoride"HF") د دې ډول کیمیاوي موادو له بیلګو څخه دي.

پراکسایدونه د اکسیجن لرونکي عضوي ترکیباتو درلودونکي دي چې د اتموسفیر له اکسیجن سره تعامل کوي او انفجاریدونکي پراکسایدونه تولیدوي.

څو نایتریته اروماتیکونه (څو منظوره معطر مواد) د غبرګون ښودنکي نایتریت درلودونکي دي چې له ځینې فلزونو سره د تماس په وخت کې کولای شي د پیکرات منفجریدونکي مالګې (explosive picrate salts) جوړې کړي.

کلوروفورم د وخت په تیریدو له هوا سره تعامل کوي او فوسجن (phosgene)، چې یو ډول زهري وژونکي ګاز دی تشکیلوي.

بې اوبو هایدروجن فلوراید په آسانۍ سره ویلې کیږي او کیدای شي د فلزي کپسول له کاربن سره تعامل وکړي او د کپسول دننه د فشار د لوړوالي سبب شي چې پدې توګه د هغه د منفجریدو امکان زیاتوي.

نو په دې اساس له وخت سره حساس کیمیاوي مواد باید په ساده ولاړو شیشه یي بوتلونو او یا په هغو بوتلونو کې چې سرپوښ یې له فلزي ورقې جوړ وي و نه ساتل شي. برعکس، دا مواد باید به تیاره رنګه شیشه یي بوتلونو کې وساتل شي تر څو له رڼا سره له عکس العمل څخه یې مخنیوی وشي. بهتره داده چې د دې موادو د اړتیا وړ لږ مقدار واخیستل شي تر څو په لابراتوار کښې دننه د هغوی له ساتلو څخه مخنیوی وشي. د امکان په صورت کښې ښه خبره داده چې د دې موادو پرځای له هغو موادو څخه کار واخیستل شي چې خطر یې کم وي.

**خاص احتیاطي موارد:**

له وخت سره حساسو کیمیاوي موادو څخه باید په دوامداره توګه نظارت وشي او په ټاکلو شوو فاصلو کې له منځه یووړل شي. که چیرې دا مواد د اوږد مهال لپاره په ګودامونو کې ساتل شوي وي او فرعي خطرناک محصولات یې تولید کړي وي، نو د دې موادو مدیریت او له منځه وړل یې ډیر خطرناک دي او ممکن ډیر مصرف ولري.

که چیرې تاسو په خپل لابراتوار کې له وخت سره حساس کیمیاوي مواد و مومئ چې د هغوی تاریخ تیر دی او یا تاریخ نلري:

- همیشه باید د داسې بوتلونو په منځ کې د کیمیاوي موادو ځانګړني او د انقضا نیټه باید وکتل شي.
- د هغوی د اوبو اندازه معلومه کړئ
- که ثابته شوه چې بوتل د کرستالونو درلودونکی دی، ساحه باید په بیړه محدوده او شخص / ډیپارټمنت مسؤل باید خبر کړای شي.



- همیشه د خوندیتوب اړوند مالوماتو پاڼه (Safety Data Sheet (SDS)) او د هر محصول د شخصي محافظت د وسایلو مشخصې اړتیاوې باید په دقیقه توګه مطالعه کړای شي. د داسې موادو سره د تماس په وخت کښې لږ تر لږه باید ماسک، عینکې، چپنه او دستکشې ولرئ.
- د کیمیاوي موادو ساتنځای باید په کال کې لږ تر لږه یو ځل وکتل او و ارزول شي
- ټول هغه حساس کیمیاوي مواد چې تاریخ یې تیر وي او یا د بوتل/کانټینر پر شا لیکل شوي ځانګړتیاوې یې پاکې شوي وي باید حذف او له منځه یووړل شي.
- په ټولو حالتونو کې له وخت سره حساس ټول کیمیاوي مواد باید په جزئیاتو لیبل ولري او د احتیاط علامې لکه لاندې شکل کښې چې ښکاري، پرې لګول شوي وي:




- **د پیژندلو ځانګړي روښونه (لارې):**
  - د پیرلو نیټه او هغه نیټه چې د پرانستو کیمیاوي موادو پر بوتلونو او یا هم چې دوهم بوتل ته منتقل شوي وي، باید د استفاده کوونکي او د دې موادو د مالک له خوا پر ټولو لوښو په روښانه توګه ولیکل شي.
  - د پراکساید تولیدونکي مواد ممکن د بوتل د سرپوښ په شاوخوا د یوې خرابې (mossy) ظاهري بڼې په درلودلو سره مشخص شي. ممکن یو سپین رنګه فیلم او یا د هغه بقایا د بوتل پر غاړه او یا سرپوښ او یا هم ممکن کرستالونه د بوتل په داخلي مایع کې ولیدل شي.
  - د پراکساید آزمیښتي سټریپونه چې د پراکساید په شتون کې په یو ښودونکي رنګ تبدیلیږي په تجارتي توګه په بازار کې موندل کیږي او کولای شو له هغه څخه په دې کیمیاوي موادو کې د پراکساید د معلوملو لپاره کار واخلو.
  - که چیرې څو نایتریته اروماتیکونه (Picric Acid) خپلې اوبه له لاسه ورکړي، په بې رنګه شکل لیدل کیږي او په هغه کې کرستالونه جوړیږي.

- کلوروفورم ممکن نورماله ظاهري بڼه ولري. یوازینی روش چې کولای شي د هغې ثبات ثابت کړي، ددي مادې عمر دی چې د بوتل پر شا د لیکل شوي تاریخ په کتلو سره معلومیږي.
- د هایډروجن فلوراید بې اوبو کپسولونه د کپسول د ریګولاتور په برخه کې د اضافي فشار ښودونکي دي.

- **د پراکساید تشکیلونکي کیمیاوي مواد**

د پراکساید تشکیلونکي کیمیاوي مواد د موادو هغه ټولګه ده چې د ښوریدو پر وړاندې د حساسو او منفجریدونکو کرستالونو د جوړیدو وړتیا لري. هر کله چې دا مواد اصطکاک پیدا کړي او یا و ښورول شي، کرستالونه به منفجر شي. د پراکساید تشکیلوونکي کیمیاوي مواد ممکن جامدات، مایعات او یا ګازات وي. دا کیمیاوي مواد ممکن اور اخیستونکي او غبرګون ښودونکي هم وي نو پر دې اساس په لابراتوار کښې له هغو څخه د استفادې لپاره ممکن نورو SOP ګانو ته هم اړتیا پیدا شي. د پراکساید د تشکیلوونکو کیمیاوي موادو د انفجاري، غبرګون ښودونکي او اور اخیستني ځانګړنو په خاطر باید د دې موادو د خوندیتوب اړوند مالوماتو پاڼه او لیبل په واضحه توګه موجود او همیشه ولوستل شي.

- **ذخیره**

پراکسایدونه هغه وخت تشکیلیږي چې یاد شوي مواد له هوا سره مخ شي. د پراکساید د تشکیل کچه د خاصو کیمیاوي موادو، د هوا سره د مخ کیدا په کچه او دا چې یاد شوي کیمیاوي مواد د پراکساید د تشکیل د نهې کوونکو درلودونکي دي یا نه، پورې اړه لري. نو پدې توګه، لازمه ده چې د پراکساید تشکیلوونکي کیمیاوي مواد په ډیټابیس او یا د لابراتوار د موجودی په کتاب کې ثبت او د هغوی ټولو لپاره د هر ټولګې کیمیاوي موادو د محدودیت پر اساس د انقضا نیټه په نظر کې ونیول شي (دا ټولګې په لاندې توګه تشریح کیږي). د پراکساید تشکیلوونکي ټول کیمیاوي مواد باید له نور او تودوخې څخه لیرې وساتل شي او د بوتلونو سرپوښونه یې په سمه توګه وتړل شي او د هغوی د لاسته راوړلو او پرانیستلو نیټه یې پر شا و لیکل شي.

**.a د پراکساید د تشکیلوونکو کیمیاوي موادو ټولګې**

د پراکساید تشکیلونکي ټول کیمیاوي مواد په دري عمده ټولګو ویشل کیږي. د پراکساید تشکیلونکي کیمیاوي مواد چې په A ټولګې کې موجود دي د لابراتوار په الماری کې د ساتلو پر مهال د پراکساید د انفجاریدونکو لوړه سطحه تولیدوي. دا کیمیاوي مواد باید مخکې له استفادې څخه معاینه شي او یا هم د بوتل تر پرانیستلو دري میاشتې وروسته او یا هم د بوتل پر شا د لیکل شوې نیټې د تیریدو په صورت کې مخکې له دې چې بوتل پرانستل شي په مصوونه توګه له منځه یوړل شي. که کرستالونه د بوتل پر داخل او یا د سرپوښ پر شاوخوا موجود وي، او یا هم محلل خپل رنګ له لاسه ورکړی وي، نو له شخص/د ډیپارټمنت له مسؤل سره دې تماس ونیول شي.

د A ټولګې: د هغو کیمیاوي موادو لیست چې د بوتل له پرانیستلو ۳ میاشتې وروسته او یا هرکله چې د هغه نیټه پوره شي، که بوتل پرانیستل شوی هم نه وي باید له منځه یوړل شي



| | | |
|---|---|---|
| Isopropyl ether | Tetrafluoroethylene | Vinylidene chloride |
| Sodium amide | Chlorobutadiene (chloroprene,liquid monomer) | Divinyl acetylene |
| Butadiene | Potassium metal | Potassium amide |

- د B ټولګې د پراکساید تشکیلونکي فقط هغه وخت خطرناک دي چې پراکسایدونه تراکم وکړي، چې دا کار د بخار او یا د محلل د تقطیر له امله را منځته کیږي. دا مواد باید د بوتل د سر له پرانستلو یو کال وروسته او یا که د بوتل سر پرانستل شوی هم نه وي مګر نیټه یې پوره شي، باید له منځه یوړل شي.

د B ټولګې: د هغو کیمیاوي موادو لیست چې د بوتل له پرانیستلو ۱ میاشت وروسته او یا هرکله چې د هغه نیټه پوره شي که د بوتل سر پرانستل شوی هم نه وي، باید له منځه یوړل شي

| | | |
|---|---|---|
| Acetal | Cumene (isopropylbenzene) | Ethylene glycol ether acetates (cellosolves) |
| 2-Cyclohexen-1-ol | Diethylene glycol dimethyl-ether (diglyme) | 2-Pentanol |
| Acetaldehyde | Cyclohexene | Furan |
| Cyclopentene | Methyl-isobutyl ketone | 4-Penten-1-ol |
| Benzyl alcohol | Diethyl ether | 4-Heptanol |
| Decahydronaphthalene (decalin) | 4-Methyl-2-pentanol | 1-Phenylethanol |
| 2-Butanol Dioxanes | Methyl Acetylene | 2-Hexanol |
| Diacetylene (butadiyne) | 3-Methyl-1-butanol | 2-Phenylethanol |
| Chlorofluoroethylene | Methyl-isobutyl ketone | Tetrahydrofuran |
| Dicyclopentadiene | Vinyl Ethers | Tetrahydronphthalene |
| | | Other Secondary Alcohols |

- د پراکسايد د تشکيلونکو موادو C ټولګی ممکن د پراکسايد د تشکيل له امله اوتوپوليميرايز شي. دا مواد بايد د بوتل د سر تر پرانستلو يو کال وروسته او يا هم کله چې د هغه نېټه پوره شي که سر يې پرانستل شوی هم نه وي، بايد له منځه يووړل شي.

د C ټولګی: د هغو کيمياوي موادو ليست چې د بوتل د سر تر پرانستلو ۱ مياشت وروسته او يا هم کله چې د هغه نېټه پوره شي که سر يې پرانستل شوي هم نه وي بايد له منځه يووړل شي.

| | | |
|---|---|---|
| Butadiene | Vinyl Pyridine | Vinyldiene Chloride |
| Chlorobutadiene | Styrene | Vinyl Acetylene |
| Chloroprene | Tetrafluoroethylene | Vinyl Chloride |
| Chlorotrifluoroethylene | | Vinyl Acetate |

## وچيدونکي محللونه

د پراکسايد تشکيلونکي محللونه بايد د پراکسايد د موجوديت په خاطر مخکې له وچيدو وکتل شي. د دې هدف لپاره يو څو تجارتي سيستمونه شتون لري. که چيرې د پراکسايد د تشکيلوونکو محللونو د وچيدو لپاره د تقطير له روشه کار اخيستل کيږي، د تقطير لوښي ته بايد فلزي سوديم ور واچول شي تر څو د پراکسايد تشکيليدل کم شي او بنزوفينون (benzophenone) د سوديم د موجوديت لپاره د يو ښودونکي په توګه اضافه کړئ. د آسماني شنه رنګ پيداکيدل د دې ښکارندوی ده چې تر اوسه هم سوديم شتون لري. که چيرې د لوښي شين رنګ ليرې شو، لوښي ته نور فلزي سوديم ور واچوئ (د فلزي سوديم څخه د استفادې د لا زياتو مالوماتو لپاره د اوبو په مقابل کې د حساسو کيمياوي موادو SOP ګانې در سره وګورئ.

**يادداښت:** د پيرلو پر وخت کښې اطمينان حاصل کړئ تر څو داسې کيمياوي مواد و پيرئ چې د پراکسايد د نهې کوونکو لکه butylated hydroxytoluene (BHT) کافي مقدار په ځان کې ولري. که مو هغه مواد چې نهې کوونکي نلري و پيرل او ذخيره مو کړل، هغه په داسې اتموسفير کښې چې نايتروجن او ارګون (argon) شتون و نلري ذخيره کړئ او هغه د پراکسايدو د موجوديت په خاطر لږ تر لږه په مياشت کې يو ځل و ازمويئ.

هيڅ کله ياد شوي کيمياوي مواد تر څو چې مو د پراکسايدو د شتون په خاطر معاينه کړي نه وي؛ تبخير، تقطير او متراکم نه کړئ. پراکسايدونه نظر د هغوی اصلي موادو ته د تقطير ګرم لوښي کښې متراکم کيدو ته دير مايل دي .

هيڅ کله او په هيڅ ډول شرايطو کې د پراکسايدو د تشکيلوونکې کيمياوي مايع لوښي ته چې د هغه د سرپوښ شاوخوا او يا داخل کې سپين کرستالونه موجود وي، لاس مه وروړئ او مه يې پرانيزئ. د سرپوښ اصطکاک او د بوتل خلاصول ممکن د خطرناکو پايلو سبب شي.



## ځونايتريته اروماتيکونه (Picric Acid, 2,4-dinitrophenol)

پيکريت اسيد او د هغه د مشتقاتو يوه کمه اندازه بايد د هغو په لمړنيو لوښو کې په يوه ساړه، وچ او د ښې تهويې درلودونکې ساحه کښې چې د حرارت له منبع څخه ليري وي دخيره شي. پيکريت اسيد د يوي جامدې مادې په توګه اوراخيستونکې بلل کيږي او له اوکسيدايز کوونکو، ارجاع کيدونکو عواملو، غيرعضوي مالګو، الکلوئيدونو او له البومين سره ناسازګاره ده. د پيکريک اسيدو ناسمه تنظيم او ذخيره ممکن د ښوريدو، اصطکاک او تودوخې په مقابل کې د دې مادې د حساسيت سبب شي. که چيرې پيکريک اسيد د خپل ټول حجم ٪۱۰اوبه له لاسه ورکړي، په دې حالت کې هغه له حده ډير بې ثباته کيږي او ممکن انفجار وکړي. نو په دې توګه که ياده شوې ماده وچه ښکاريده، نو د نوموړې مادې لوښي ته لاس مه وروړئ او د هغه سر مه پرانيزئ، بلکه زر تر زره د شخص/مسؤل ډيپارټمنټ سره اړيکه ونيسئ. په ټوليزه توګه پيکريک اسيد د هغه د محتوا لپاره په هرو ۳ مياشتو که يو ځل نظارت کړئ او هغه د يوي خطرناکي پاتې شوني په توګه له پيرلو دوه کاله وروسته له منځه يوسئ.

## کلوروفورم

کلوروفورم بايد په يوه ساړه، وچ او هواداره ځای کې چې د تودوخې درجه يې له ۳۰ سانتي ګرادو څخه کمه وي په هغو لوښو کې چې خوله يې سمه بنديږي وساتل شي. کلوروفورم په عادي تودوخه کې په رڼا او د هوا په نه موجوديت کې او په تياره کښې د هوا په موجوديت کې تخريبيږي چې له امله يې فوسجن (يو زهري ګاز) توليديږي. د فوسجن له ډيرو لږو مقدارونو سره د تماس په نتيجه کې هغه د مرکزي عصبي سيستم د تخريب سبب کيږي، نو له دې امله نوموړې ماده بايد په ډير احتياط سره وکارول شي.

نو د دې نيمګړتيا د لمنځه وړلو لپاره ښه خبره داده چې د الکولو په واسطه پايدار شوي کلوروفورم و پيرل شي. خو که چيرې د لابراتواري کارونو لپاره ناپايداره کلوروفورمو ته اړتيا وي، نو بايد د پراکسايد د تشکيلوونکو ترکيباتو په توګه په نظر کې ونيول شي او په لنډ وخت کې وکارول شي. سره له دې چې امايلين (Amylene) د پايدارونکو په توګه کارول کيږي، مګر شواهدو دا ښودلې چې نوموړې ماده د فوسجن د توليد مخه نه نيسي. که چيرې ناپايداره کلوروفورم چې له يو کال ډير عمر ولري په لابراتوار کې پيدا شول، نوموړې ماده بايد د خطرناکې پاتې شوني په توګه له منځه يووړل شي. مګر پايداره کلوروفورم په هغه صورت کې چې د لوښي د سر تر پرانستلو يې يو کال تير شوی وي، بايد له منځه يووړل شي.

## بې اوبو هايدروجن فلورايد

هايدروجن فلورايد ممکن د کپسول له داخلي اوسپنې سره تعامل وکړي او د هايدروجن او فلورايدو اوسپنه توليد کړي. په ساحه کې د نايتروجن توليد شوی ګاز د کپسول په سوريو کې تراکم کوي او د کپسول په داخل کې د فشار د لوړيدو سبب ګرځي. غيرمصوونه کچې ته د فشار د لوړيدو د خطرونو د راتيټولو په خاطر، د هايدروجن فلورايد د کپسول داخلي فشار بايد د مناسب فشار سنج په واسطه په لابراتوار کې د دوه کلنې ذخيرې پر مهال چک شي. د امکان په صورت کې هغه کپسولونه چې تر دوه کاله ډير عمر ولري او استفاده شوي نه وي، بهتره ده چې پلورونکي ته بيرته ور وګرځول شي. د کلي قاعدې په توګه، لمړی دننه-لمړی بيرون دوران (A First In First Out 'FIFO') بايد د کيمياوي

موادو او کپسولونو په شمول ټولو کیمیاوي موادو باندې تطبیق شي . دا چې د دوو کالو (د ذخیرې لپاره پیشنهادې دورې) په جریان کښې له حده ډیر فشار تولیدیږي، چې د اوږدمهالي ذخیرې په صورت کې به دا اندازه مطمینآ له حده ډیره وي، نو د هایدروجن فلوراید د کپسولونو د اوږدمهالي ذخیرې د تثبیت په صورت کې باید فورا شخص /مسؤل ډیپارټمنت سره اړیکه ونیول شي.

- **د ګاز تولیدونکي پاتې شوني**

د لابراتواري معمولو کیمیاوي موادو مختلف ترکیبات د ګاز د تولید وړتیا لري او باید په ډیره مصوونه او دقیقه توګه ذخیره شي تر څو د فشار د لوړیدو او ذخیروي لوښو د انفجار څخه مخنیوی وشي. د نایتریک اسید او هایدروکلوریک اسیدو مخلوط (چې د Aqua regia په نوم یادیږي) او د سلفوریک اسیدو او هایدروجن پراکسایدو مخلوط (چې د Piranha solution په نامه یادیږي) د دا ډول موادو معمولي بیلګې دي. د ګازو تولیدونکي ټولې پاتې شوني باید په مخصوصو لوښو کې چې د هغوی په سرپوښ کې ځانګړي سوري شتون لري، ذخیره شي . د انفجار د خطر د شتون له امله، د دې او د ګاز تولیدونکو ټولو کیمیاوي موادو د ذخیرې په خاطر باید له ښیښه یي لوښو څخه کار وانخیستل شي.

## b. د کیمیاوي پاتې شونو لېبلول

د کیمیاوي موادو د ټولو لوښو مناسبه لیبلول د خطرناکو پاتې شونو د تنظیم په برخه کې مهم او حیاتي رول لري چې دا کار باید د لابراتواري عمومي قواعدو او د حیاتي مصوونیت او امنیت د لارښوونو په ترڅ کې تر سره شي. د کیمیاوي موادو ټول لوښي او د هغوي پاتې شوني باید په ټولو وختونو کې په شمول د هغو وختونو چې د لمړي ځل لپاره په هغوی کې مواد اچول کیږي، باید ټول مشخصات په هغوی کې ځای پر ځای شي.

د لوښو په لېبلولو کې اړين مالومات په لاندې توګه بيانيږي:

1. **د "خطرناکو پاتې شونو"** (Hazardous Waste) کلمه
2. **د کیمیاوي موادو نوم:** ټول هغه کیمیاوي مواد چې د پاتې شونو په لوښو کښې اچول کیږي د بې خطرو په شمول (لکه اوبه) باید لېبل شي. له اختصاراتو کار مه اخلئ، بلکې مکمل کیمیاوي نوم یې ولیکئ (د بیلګې په توګه، سودیم هایدروکساید نه دا چې ("NaOH").
3. **سلنې:** د مخلوطو پاتې شونو لپاره، د کیمیاوي توکي هره اندازه چې په لوښي کښې اچول کیږي، باید و ځارل شي تر څو نهایي سلنه محاسبه شي. په دې برخه کې د بې خطره اجزاو سلنه لکه اوبه هم شامیلیږي. هرکله چې لوښي ډک شو، په هماغه وخت کې د دې نهایي سلنه هم په لېبل کې ولیکل شي.
4. **د لابراتوار مالومات:** د لابراتوار نوم، د تلفون شمېره او هغه نیټه چې لوښي ډک او تړل شوي، باید په لېبل کې ولیکل شي.
5. **خطرونه:** د خطرناکو موادو ټولې کټګورۍ چې د لوښي په محتوا کې تطبیقیږي باید ټک مارک شي (د بیلګې په توګه، د سوزېدو وړ، زهري، غبرګون ښودونکي، تخریشونکي) (لاندې شکل وګورئ).
6. **نېټه:** د پاتې شوني لوښي د ډکیدو دقیقه نیټه باید په لېبل کې ولیکل شي.



7. **ناپېژاند کیمیاوي مواد:** باید د خطرناکو پاتې شونو په توګه معامله او لېبل شي. د ناپېژاندو کیمیاوي موادو پاتې شوني لوښي باید د کیمیاوي موادو د پاتې شونو په یو زیړ لېبل نښاني شي. لطفاً د لېبل د پاسه د "ناپېژندل شوي" کلمه ولیکئ او هر څومره مالومات چې د دې کیمیاوي موادو په اړه لري په لېبل کې يې ولکئ او د دې موادو د احتمالي خطر لپاره ټولې مناسبي کټګورۍ باید ټک مارک شي.

**نوټ:** هرکله چې د لمړي ځل لپاره لوښي ته کیمیاوي مواد ور واچول شول، د دا ډول کیمیاوي موادو د پاتې شونو ټولو لوښو باندې باید د کیمیاوي موادو زیړ لېبل و نښلول شي . د لوښو پرشا د لیبل د تکمیلولو لپاره له پنسل څخه کار واخلئ ځکه د نورو قلمونو رنګ د مختلفو محللونو په وسیله په آسانی سره پاکیږي. لاندې یو ډیر ښه توضیحي مثال د کیمیاوي موادو پاتې شونو د لوښو د لېبلولو لپاره ښودل شوی.


Step 1 Is this a ☐ Hazardous or ☐ Non-Hazardous Waste?
Refer to the EHRS Waste Determination Quick Guide on the reverse side for guidance
EPA regulations require this determination to be performed when waste is first added!

Step 2 CHECK ALL HAZARDS THAT APPLY
☐ Flammable ☐ Corrosive ☐ Toxic
☐ Oxidizer ☐ Pyrophoric ☐ Water Reactive
☐ Other (explain) ____________

Step 3 Is this material: ☐ unused/virgin or is it ☐ used/spent or reacted with other chemicals?

Step 4 LIST ALL CHEMICAL CONSTITUENTS
USE FULL NAMES, NO ABBREVIATIONS
WRITE IN PENCIL! INK WASHES OFF EASILY

| CHEMICAL [CONCENTRATION] | % COMPOSITION |
|---|---|
| 1. | |
| 2. | |
| 3. | |
| 4. | |
| 5. | |
| 6. | |
| 7. | |
| 8. | |
| TOTAL | 100% |

Step 5 PI / Manager: ________ Phone#: ________
Building: ________ Room#: ________
Waste contact name: ________
DATE container started in lab: ________

Step 6 REQUEST A CHEMICAL WASTE PICKUP at:
www.ehrs.upenn.edu/chemwaste

- هغه کارکوونکي چې د کیمیاوي موادو نهایي له منځه وړل ترسره کوي، د لېبل مکملو مالوماتو ته اړتیا لري تر څو د کیمیاوي موادو د سم او مصوونه تنظیم په برخه کښې پرېکړه وکړي.
- د چاپېریال قوانین هم موږ مجبوروي تر څو ټول کیمیاوي مواد په سمه توګه لېبل کړو
- د کیمیاوي موادو ترکیبات باید پېژندل شوي وي تر څو یاد شوي مواد په کم لګښت او کمو چاپېریالي منفي اغیزو له منځه یووړل شي.

## c. د کیمیاوي پاتې شونو جلا کول او بیلدل

کیمیاوي پاتې شوني باید د عمومي ډولونو (د بیلګې په توګه، اور اخیستونکي، زهرونه، تیزابونه، القلي ګانې) په اساس تنظیم، جلا او بیل شي تر څو ناسازګاره مواد سره مخلوط نشي. ناسازګاره مواد هغو موادو ته ویل کیږي چې که چیرې سره مخلوط کړل شي، یا شدید عکس العمل ښیي او یا هم اور لګوونګي او زهري بړاسونه خپروي. لاندې هغه اساسات چې د خطرناکو کیمیاوي موادو د مصوونه ذخیرې لپاره په نظر کې نیول کیږي، لیست شوي:

١. تیزابونه او القلي ګانې په جلا جلا توګه ذخیره کړئ.
٢. تیزابونه له سیانایدونو او سلفایدونو څخه لیري وساتئ.
٣. تیزابونه هیڅکله په اوسپنیزو لوښو (steel) کې مه اچوئ.
۴. هغه کیمیاوي مواد چې له اوبو سره تعامل کوي، قوي اسیدونه، بې اوبو عضوي او غیر عضوي تیزابونه او قوي تیزابي مالګې، باید له اوبو او القلي ګانو لیري وساتل شي.

٥. اکسیدایز کوونکي عوامل باید له ارجاع کوونکو عواملو او عضوي مرکباتو لیري وساتل شي
٦. لـه اوبـو سره غبرګـون ښـودونکي عوامـل (Water-reactive agents) بایـد لـه اوبـو، اوبیـزو محلولونـو او تیزابونـو څخـه جـلا ذخیـره شي.
٧. له هوا سره غبرګون منونکي مواد باید په داسي لوښو کې بسته بندي شي چې هوا ور داخله نشي.
٨. منفجریدونکـي او لـه ښـوریدو سره حسـاس مـواد کارکوونکـي لـه لا ډیـرو خطرونـو سره مـخ کـوي، ځکه نو ځانګـړې ځـای پـر ځـای کـووني تـه اړتیـا لـري. د دې مـوادو لـه ځـای پـر ځـای کولـو مخکـې د لابراتـوار لـه مسؤلانو سره مشـوره وکـړئ.

## د خطرناکو کیمیاوي موادو د تنظیم لپاره اړین قواعد

١. د امـکان پـه صـورت کـې داسـې لارې چـارې ولټـوئ تـر څـو د کیمیـاوي پاتـې شـونو د تولیـد اندازه شـونې ټیټـې کچـې ته ورسـوئ.
٢. فقـط مناسـب لوښـي (پلاسـتیکي لوښـو تـه ترجیع ورکـول کیـږي) د کیمیـاوي پاتـې شـونو د ذخیـري لپـاره و کاروئ.
٣. ټولـې کیمیـاوي پاتـې شـونې پـه یـو مشـخص ځـای کـې چـې د «Satellite Accumulation Area SAA» پـه نـوم یادیـږي، ذخیـره کـړئ.
٤. د کیمیاوي پاتې شونو ټول لوښي باید لېبل شي.
٥. د کیمیـاوي پاتـې شـونو د ټولـو لوښـو سرونـه بایـد همیشـه تـړلي وي، هـر کلـه چـې وغـواړئ هغـو تـه مـواد ور اضافـه کـړئ سر یـې پرانیسـتلی شـی.
٦. پـه SAA کـې د ذخیـره شـوو پاتـې شـونو د لېـږد پـه خاطـر بایـد لـه شـخص /مسـؤل ډیپارټمنـت سره اړیکـه ونیسـئ.

## .d د کیمیاوي پاتې شونو د ذخیره کولو ساحه

د کیمیـاوي مـوادو د پاتـې شـونو لوښـي د حفاظتـي او چاپیریـالي دلایلـو لـه مخـې، بایـد د لابراتـوار لـه عـادي سـاتنځای څخـه جـلا پـه یـو مشـخص ځـای کـې چـې د کوچنـی تولیدنـي سـاحې (SAA) پـه نـوم یادیـږي، ذخیـره شي. دا سـاحه کېـدای شي د یـو کاري میـز پـر سر، د هـوډ (hood) کوچنـی برخـه یـا خـالي الماری وي. د پاتـې شـونو د انتقـال پـر وخـت کـې د آسـانه لاسرسي لپـاره ښـه خـبره داده چـې SAA د لابراتـوار د وتلـو دروازې تـه نـږدې جـوړ شي. د کیمیـاوي پاتـې شـونو ټـول لوښـي کلـه چـې پـه هغـه کـې مـواد نـه اچـول کیـږي، همیشـه بایـد پـه سـمه توګـه تـړل شـوي وي. د کیمیـاوي پـاتي شـونو ټـول لمـړني لوښـي بایـد پـه دوهمـو لویـو لوښـو لکـه پلاسـتیکي تشـت کـې کېښـودل شي ترڅـو د لمـړني لوښـي د سـوري کېـدو او یـا لمـړني لوښـي تـه د مـوادو د اچولـو پـر وخـت د مـوادو د تویـدو پـه صـورت کـې، دا مـواد د بانـدې تـوی نـشي.

د مـوادو د ذخیـرو ځایونـه بایـد هـره اوونـی د کوچنیـو لوښـو د نه سـوري کېـدو څخـه د اطمینـان په خاطـر وکتل شي. د عمومـي قاعـدې پـه توګـه، کلـه چـې د پاتې شـونو لمـړني لوښـي ډک شـول، پـه بلـه ورځ باید دغه لوښـي د نهایـي لـه منځـه وړلـو په خاطـر ولېږدول شي، مګـر ناتکمیله لوښـي کېـداي شي تـر یو کالـه په SAA کـې پاتې شي، دا ټـول لوښـي بایـد پـه سـمه توګـه لېبـل شي او سرپوښـونه یې همیشـه تـړلي وي. نـو پـه دې توګه، ټـول هغه لابراتوارونه چې خطرناکه کیمیاوي پاتې شـوني تولیدوي، باید د SAA مشـخصې سـاحې برابرې او په ګوته کړي. د خطرناکـو کیمیـاوي مـوادو د پاتـې شـونو د سـاتنې پالیسـی کـې لانـدې ټکـي شـامل دي، خـو یـوازې دې ټکو تـه هـم نـه محدودیږي:



- ټـول خطرنـاک پاتـې شـوني باید کیمیـاوي مـوادو سره سـازګارو لوښـو ته چـې د موادو پـه واسـطه د تخریب او سـوري کېـدو مانع کیـږي، په مناسـبه توګـه ذخیره شي.
- لوښـي د بوتـل لـه غـاړې څخـه ډېـر مـه ډکـوئ او یـا لـږ تـر لـږه بایـد یـو انـچ د بوتـل پاسـنی برخـه خـالي پاتـې شي.
- لوښـي بایـد لـه داسـې مـوادو څخـه جـوړ شـوې وي چـې لـه پاتـې شـونو سره تعامـل ونکـړي او نـه هـم پـه هغـه کـې جـذب شي او د هغـه سرپـوښ هـم بایـد د عـین مشـخصاتو درلودونکـی وي.
- د بوتل سر باید نوی وي او هیڅ ډول درز او خرابتیا باید ونلري.
- د ذخیـرې پـر مهـال بایـد د ټولـو لوښـو سرونـه همېشـه پـه سـمه توګـه تـړلي وي او صرف د مـوادو د اچولـو پـر وخـت کـې د هغـو سر پرانسـتل شي .
- د خوراکـي مـوادو لوښـي لکـه د مربـا شیشـه یـي بوتلونـه، د اوبـو جګونـه او داسـې نـور کـه لـه پاتـې شـونو سره سـازګاره هـم وه، د خطرناکـو پاتـې شـونو د ذخیـرې پـه خاطـر بایـد و نـه کارول شي. سر بېـره پـر دې، د پاتـې شـونو د مخکنیـو لوښـو څخـه چـې خـراب او یـا درز شـوي وي هـم بایـد کار وانخیسـتل شي.
- مناسـبو لوښـو تـه د کیمیـاوي مـوادو لیـږد د SAA د کارکوونکـو مسؤلیت دی او هغـوی بایـد پـه سـاحه کې د خطرناکـو کیمیـاوي مـوادو د ذخیـرې لپاره مناسـب لوښـي کښـیږدي.
- هـر SAA بایـد نسـبت لمړنیـو لوښـو تـه د دوهمـو لویـو لوښـو درلودونکـی وي تـر څـو لومـړني لوښـي پـه هغـه کـې کښېښـودل شي او د لمړنیـو لوښـو څخـه د تویـدو (چـې هیڅکلـه بایـد داسـې و نـشي) یـا سـوري کېدو/چپـه کېـدو پـه صـورت کـې کیمیـاوي مـواد بـیرون تـوی نـشي.
- کېـدای شي هـر SAA د مختلفـو پاتـې شـونو لپـاره څـو جـلا سـاحې ولـري، خـو پـه دې شرط چـې دا مـواد سره پـه خپلـو کـې سـازګاره وي. کـه چیرې دا مـواد پـه خپلو کـې سره سـازګاره نـه وي، یادې شـوې سـاحې بایـد د یـوې مانـع پـه واسـطه سره جـلا کـړای شي تـر څـو د تویـدو او لوښـو د سـوري کېـدو پـه صـورت کـې لـه ناګـواره عکـس العملونـو څخـه مخنیـوی وشي. د ځینـو مـوادو لپـاره د دوهمـو لوښـو موجودیـت ممکـن د دې مـوادو د جـلا کولـو لپـاره کافي وي.

**یاددښـت:** لـه تخنیکـي پلـوه، یـو chemical fume hood cabinet (کـف ایـن کابنېـټ) د دوهمـي لوښـي پـه توګـه حسـابیږي، مګـر د مایـع پاتـې شـونو پـه صـورت کـې دا خطرنـاک ده او بهـتره ده چـې لمـړني لوښـي پـه دوهمـو لوښـو کـې کېښـودل شي او بیـا وروسـته پـه دې ځـای کـې پـر ځـای شي. پـر دې سربېـره بایـد پـه یـاد ولـرئ چـې هیـڅ کلـه کیمیـاوي پاتـې شـوني د هـوډ او یـا بایوسـفټي کابنېـټ پـه داخـل کـې لـه منځـه یـو نه وړل شي، بلکـې همېشـه بایـد د کیمیـاوي پـاتي شـونو سرپوښـونه تـړل شـوي وسـاتل شي.

## د SAA اړتیاوې

د سـاحې پراختیـا تـه پـه کتـو سره، حـد اکـثر ٥٥ ګیلنـه خطرناکـې پاتـې شـوني کېـداي شي د هـر SAA پـه داخل کـې ذخیـره شي. د حـادو زهـري کیمیـاوي پـاتي شـونو د شـتون پـه صـورت کـې (مثـلا سـودیم ازایـد، سـودیم سـیانایډ، اوسـمیوم تترااوکسـاید)، حداکـثر یـو کیلوګـرام جامـد او یـا هـم د دې انـدازې څلورمـه حصـه مایـع پـه عـین وخـت کـې پـه عین سـاحه کـې ذخیـره کېـداي شي. هرکلـه چـې لـه دې انـدازې څخـه زیـات شي، د SAA مسؤلین بایـد دا مـواد د درې کاري ورځـو پـه مـوده کـې لـه لابراتـوار څخـه لـیري کـړي.

## د ذخیرې محدودیتونه

په یوه SAA ساحه کې د خطرناکو پاتې شونو لوښي له هغه وخت څخه چې د اول ځل لپاره یوه اندازه په هغه کې اچول کیږي، تر یوه کاله کیدای شي په دې ساحه کې پاتې شي، په دې شرط چې د هغې اندازه له ۵۵ ګیلنه څخه ډیره نشي. د ذخیرې ځای باید ساحې ته نږدې وي ترڅو پاتې شونې له یو اطاق څخه بل او له یو لابراتوار څخه بل لابراتوار ته د ذخیرې لپاره و لیږدول شي.

## په SAA کې د لوښو مدیریت

د پاتې شونو هغه لوښي چې په SAA کې ذخیره کیږي باید د لاندې شرایطو درلودونکي وي:

- په ښه حالت کې وي
- له هغو پاتې شونو سره چې پکښې ذخیره کیږي، سازګاره اوسي
- له هغه وخته ماسوا چې مواد پکښې اچول کیږي، په نورو ټولو وختونو کې یې باید سرونه تړلي وي
- کیمیاوي پاتې شوني باید په ژیړ لیبل، لیبل شوي وي
- په دوهمي لوښي کې اینبودل شوي وي
- پاتې شوني باید همیشه د لابراتوار په داخل کې ذخیره او وساتل شي
- پاتې شوني هیڅ کله په عمومي ځایونو لکه دهلیزونو کې مه اچوئ.

**لاندې تصویر د SAA د ساحې د مدیریت یوه ښه بیلګه ده.**




## د کیمیاوي پاتې شونو ځای پر ځای کول

د کیمیاوي پاتې شونو د مناسبې ذخیرې او ساتلو سربیره، یاد شوي مواد باید په مصوونه توګه ولیږدول شي.



- د شخصي محافظت وسایل (PPE) لکه دستکشې، محافظتي عینکې او چپنه باید همېش په سمه توګه واغوستل شي.
- د پاتې شونو لوښي ته د مایع کیمیاوي موادو د لیږد لپاره باید همېش د قیف څخه کار واخیستل شي.
- کله چې مختلف مواد د کیمیاوي پاتې شونو په یو لوښي کې اچوئ، د کیمیاوي موادو ناسازګارۍ په نظر کې ونیسئ. د دې کار لپاره همیشه د د خوندیتوب د مالوماتو پاڼې چې د هر محصول د کیمیاوي سازګارۍ لپاره دي، مطالعه کړئ.

## e. د خطرناکو کیمیاوي پاتې شونو د لمنځه وړلو نهایي لارې چارې

د لابراتوارونو حالت ته په کتو د کیمیاوي موادو د له منځه وړلو اړتیا متفاوته ده، مګر د کیمیاوي موادو په ذخیره ځایونو کې د لاندې نښو د ښکاره کیدو په صورت کې د هغوی له منځه وړل اړین بلل کیږي:

- په رنګ او یا شفافیت کې تغییر
- په بڼه کې تغییر (د بیلګې په توګه د جامد بدلیدل مایع او د مایع بدلیدل جامد ته)
- په لیبل کې د موجوده تاریخ تیریدل
- د موادو له ساتنې او پرانستلو زیات وخت تیر شوی وي (چې دا وخت د نظر د کیمیاوي موادو ترکیب ته فرق کوي)
- د کثافت زیاتوالی، د سرپوښونو او لوښو پر شاوخوا د ترسباتو او کرستالونو پیداکیدل
- اوبه لرونکي مرکبات چې خپلې اوبه یې له لاسه ورکړې وي
- د خرابو شوو، درز شوو او یا خوړل شوو سرپوښونو شتون
- شلیدلي، پاک شوي او بې رنګه لیبلونه او یا هم په لوښو باندې د لیبل نه شتون

د کیمیاوي موادو ساتنځای باید همیشه د پورته حالتونو د ښکاره کیدو لپاره بررسي شي او له دوی څخه د یوه حالت د ښکاره کیدو په صورت کې هم باید اړوند مواد له منځه یووړل شي.

په عمومي توګه نهایي له منځه وړل د کیمیاوي پاتې شونو په رقم پورې اړه لري. یو تعداد پاتې شوني ممکن خالص کړای شي او یا هم د صنعتي اهدافو په خاطر بیا ځلي وکارول شي (د بیلګې په توګه، اکثر محللونه او غوړي). یو تعداد مواد ممکن له نورو کیمیاوي موادو سره معامله شي تر څو د هغوی خطرناکي اجزاوي خنثی کړای شي (د بیلګې په توګه، فورم الدیهاید، تیزابونه، القلي ګانې). په پایله کې بعضې پاتې شوني د نهایي له منځه وړلو لپاره له لابراتوار څخه بیرون په لوړه تودوخه کې په تائید شوو کورو کې له منځه وړل کیږي (لکه کلورین دار محللونه).

په تولنه کې د خطرناکو کیمیاوي پاتې شونو د له منځه وړلو لپاره مختلفې لارې چارې او ټکنولوژۍ کارول کیږي، چې لاندې ټکي پکې شامل دي، مګر تول هم ندي:

- په کوره کې سوځول
- خنثی کول
- خنثی کول او د هغې په تعقیب حیاتي تخریب (biodegradation)
- الکتروکیمیاوي اوکسیدیشن (په ګرمو اوبو او نایتریک اسیدو خنثی کول او د هغې په تعقیب په کاربن

دای اکسـاید، اوبـو او غیرعضـوي مرکباتو د نقرې په شـتون کـې د محصولاتو اوکسیدیشـن)

- د فلـزي ویلـې کېـدو ټکنولـوژي او یـا د کتالایتیـک اسـتخراج پروسـه (د عضـوي او غیرعضـوي عنـاصرو تجزیـه، د صنعتـي ګازونـو بیـا جوړېـدل، سرامیـک)
- High-temperature gas-phase reduction (د هایدروجـن ګاز د زیاتیـدو پـه خاطـر د کاربـن د بانډونـو د ماتیـدو سـبب کیـږي او کـم خطـره محصـولات تولیدیـږي)

سـوځول پـه کـوره کـې د اکـثرو کیمیـاوي پاتـې شـونو لپـاره یـوه ایـده آل تـګ لاره بلل کیـږي او نظـر لانـدې دلایلو تـه پـه اکـثرو حالاتو کـې پـه سـادګۍ د تطبیـق وړ ده:

- دا روش په موثره توګه هر ډول کیمیاوي مواد نسبتا بې ضررو او د کنترول وړ محصولاتو ته تبدیلوي
- د دې روش د اوږدې مخینـې لـه کبلـه، یـاد شـوی روش پـه ښـه توګـه کنترولیـږي او د هغـې پـه مـورد کـې کافي پوهـه موجـوده ده
- د یاد شوي روش عملي کول د کارکونکو او ټولنې لپاره مصوون دي

## e. د نهايي له منځه وړلو ځانګړې پروسې

### د عضوي محللونو پاتې شونې

عضـوي محللونـه پـه لابراتـوار کـې د تولیـدو شـوو پاتـې شـونو یـوه معمولـه کتګـوري جـوړوي. د مایعاتـو اکثره عضـوي محللونـه د سـوځیدو وړ دي چـې پـه عـین حـال کـې زهـري او د چاپیریـال لپـاره خطرنـاک هـم دي.

د عضـوي محللونـو اکـثرې پاتـې شـوني کـولای شـو پـه یـو لوښـي کـې راټـولي کـړو خـو لانـدې ټکـو تـه مـو حتـما پـام وي:

- د امـکان تـر حـده کوښـښ وکـړئ چـې کلوریـن لرونکـي محللونـه (لکـه دای کلورومیتـان، کلوروفورم، کاربـن ترتراکلورایـد) لـه بـې کلوریـنـه محللونـو (لکـه اسـیتون، اسـیتونایترایل، ایزوپروپانـول، میتانـول، زایلیـن) څخـه جـلا وسـاتئ او د دې ځانګړنـو پـه اسـاس هغـوی لیبـل کـړئ. ځکـه د کلوریـن لرونکـو محللونـو د پاتـې شـونو لـه منځـه وړل پـه لـوړه بیـه تمامیـږي او باید لـه لابراتـوار څخـه د بانـدې د لوړې تودوخـې کـورو تـه ولیـږدول شـي.
- پـه پاتـې شـونو کـه د موجـودو محللونـو نـوم او ځانګړنـې ثبـت کـړئ او دا مالومـات د لابراتوار لـه مدیر سره شریـک کـړئ (د بیلګـې پـه توګـه، د مخلوطـو محللونو پاتـې شـوني لکـه د اسـیتونایترایل او میتانول درلودونکي).
- هیـڅ کلـه د عضـوي محللونـو پاتـې شـوني لـه نـورو پـاتي شـونو پـه ځانګـړې توګـه لـه غبرګـون ښـودونکو مـوادو لکـه غیرعضـوي تیزابونـو او اکسـیدایز کوونکـو (لکـه سـلفوریک اسـید، نایتریـک اسـید، هایدروجـن پراکسـاید)، سره مـه ګـډوئ.

### د فورم الدیهاید او پارافورم الدیهاید محلولونه

د فـورم الدیهایـد او پـارا فـورم الدیهایـد محلولونـه نبایـد د نهایـي لـه منځـه وړلـو لپـاره دستشـوی ته واچـول شي، ځکـه دا تبنـتیدونکي (مفـر) زهـري مـواد دي چـې د سرطـان سـبب ګرځیـدای شي او د هغـوي لـه ډیـرو کمـو مقدارونـو سره مـخ کیـدل خطرناکـه بلـل کیـږي .لطفـا دا مـواد پـه هوابنـدو لوښـو کـې راټـول کـړی او د نهایـي



لـه منځـه وړلـو لپـاره بایـد لـه لابراتـوار څخـه بیـرون ولیـږدول شي. پـه فـورم الدیهایـد کـې سـاتل شـوي مـواد او نسـجونه هـم د عـین شرایطـو درلودونکـي دي او مخکـې لـه دې چـې نسـجونه لـه هغـوي څخـه و ایسـتل شي پـه عـین طریقـه بایـد لـه منځـه یـووړل شي.

### د بالقوه انفجار د قابلیت درلودونکي مواد

د منفجریدونکـو مـوادو لوښـي لکـه پیکریـک اسـید ممکـن پـه لابراتـوار کښـې موجـود وي. دا مـواد معمـولا په معاملـه شـوې بڼـه (غیرحساسـه) پیـرل کیـږي (لـه محللونـو سره مخلوطیـږي ترڅـو غیرمنفجریدونکـي شي)، خـو کـه چیـرې غیر حسـاس شـوي نـه وي، نـو بیا بایـد پـه مناسـبه توګـه ذخیره کـړای شي ځکـه د وخـت پـه تیریدو دا مـواد بـې ثباتـه کیـږي او ممکـن انفجـار وکـړي. کـه تاسـې دا ډول کومـه مـاده پـه خپـل لابراتـوار کـې پیـدا کـړه او مطمـئن نـه وئ چـې پـه سـمه توګـه ذخیره شـوي او کـه نـه- د دې مـادې لوښـي تـه لاس مـه وروړئ او هغـه مـه بـې ځایـه کـوئ. د مشـورې لپـاره سـملاسي د لابراتـور لـه مدیـر سره اړیکـه ونیسـئ.

### ناسازګاره پاتې شوني

د مختلفـو کیمیـاوي مـوادو د ناسـازګاریو پـه بـاره کـې همېشـه د خوندیتـوب د مالوماتـو پاڼـه درسره ولولـئ، لـه دې سره سره بعـضي معمـولي ناسـازګارۍ چـې ممکـن واقـع شي، پـه لانـدې ډول دي:

- د غبرګـون ښـودونکو خطرونـو درلودونکـي مـواد 5.2 ،.5.1.1 ،4)ټولګـي (لـه یـو بـل او د سـوځیدو وړ مایعاتـو (3.1 ټولګـي) او تخریشـونکو (9 ټولګـي) څخـه جـلا وسـاتئ.
- اکسـیدایز کوونکـي تیزابونـه (لکـه پرکلوریـک، نایتریـک) د اوکسـیدایز کوونکـو پـه توګـه (.5.1.1 ټولګـي) وپیژنـئ او پـه نظـر کـې یـې ونیسـئ.
- تیزابونه په مطمئنه توګه له سیانایدونو، ازایدونو او هایپوکلورایت محلولونو څخه جلا وساتئ.
- قـوي تیزابونـه (لکـه سـلفوریک اسـید، هایدروکلوریـک اسـید) لـه قـوي القـلي ګانـو (لکـه سـودیم هایدروکسـاید، امونیـا) څخـه جـلا وسـاتئ.

### Drain Disposal

مختلفـو لابراتـواري، روغتیایـي او چاپیریـالي قواعـدو تـه پـه کتـو سره د لابراتوار دستشـوی تـه د خطرناکـو موادو (لکـه کیمیـاوي مـوادو، بیولوژیکـي مـوادو، رادیواکتیـف مـوادو او ټولـو لابراتـواري پاتـې شـونو) اچـول شـدیدا تـر کنـترول لانـدې او محـدود دي. دا قواعـد د خطرناکـو مـوادو څخـه د انسـانانو، ځارویـو او چاپیریـال د روغتیا د سـاتنې او همدارنګـه د ځمکـې لانـدې اوبـو د زیرمـو او د ښـاري اوبـو رسـونې د سیسـتم د ککړتیـا د مخنیـوي پـه خاطـر را منځتـه شـوي .

### د دستشوي له لیارې د کیمیاوي موادو د اچولو/بې زیانه کولو اړتیاوې

مشـخص معیارونـه بایـد لـه مخکـې و ارزول شي ترڅـو مـواد پـه مصوونـه توګـه دستشـوی تـه واچـول شي. دا معیارونـه د زهریـت د ټیټـې کچـې، په اوبو کـې د حل کیدو لـوړې کچې او متوسـط pH درلودونکـي دي. صرف د کیمیـاوي مـوادو ډیـره کمـه انـدازه اوبو تـه اچول کیـږي او دا مـواد بایـد د هغـو معاملاتو چې د تشـناب پـه اوبو اجـرا کیـږي، د تجزیـې وړ وي. هغـه مـواد چـې اوبـو تـه اچول کیـږي بایـد د لانـدې ځانګړنـو درلودونکـي وي:

- راديو-اکتيف نه وي
- بيولوژيکي عوامل و نه لري
- د هغوي کيمياوي ترکيبات د بې خطره کيمياوي موادو په ليست کې شتون ولري
- مايعات بايد له ۱۹ ليتره ځخه زيات نه وي
- له ٪۱۰ د کمو منحله موادو درلودونکي وي او په اوبو که د حل وړ وي
- په هر ليتر کې له ۵۰ ميلي گرامو د کمو غوړو او وازدو درلودونکي وي
- د دې موادو pH بايد له 5 لوړ او تر 11 ښکته وي او نبايد د نورو تخريشوونکو اجزاوو درلودونکي وي، چې احتمالا د تشنابي اوبو د سيستم د ساختمانونو د تخريب سبب شي.

دا ټول مواد صرف د لابراتوار دستشوی ته اچول کيدای شي.

## پروسيجر

- اوبه واچوئ: د کيمياوي مواد له اچولو وروسته بايد ډيرې اوبه (د کيمياوي موادو ۲۰-۱۵ برابره اوبه) په دستشوی که واچول شي، او بهتره ده چې د موادو د اچولو په وخت کې نل خلاص وساتل شي.
- منتظر پاتې شئ: هرکله مو چې نور کيمياوي مواد اوبو ته اچول، په اول کې بايد د لمړيو کيمياوي موادو له اچولو ځخه کافي وخت تير شوی وي او بيا وروسته له هغه دوهمې کيمياوي مواد ور واچوئ.

**لاندې مواد بايد د لابراتوار دستشوی ته وانچول شي:**

- تخريشونکي محلولونه (pH <5.5 or >11)
- هغه مواد چې په آسانی سره په اوبو که نه حليږي (مثلا وازدې)
- سيانايدونه او ازايدونه
- ايکوتوکسيک فلزونه او د هغوی مشتقات (arsenic, chromium, copper, lead, mercury, silver, tin and zinc)
- انتي بيوتيکونه
- د فورم الديهايد او پارافورم الديهايد محلولونه
- فينول، بنزين او د هغوی مشتقات
- کلورين لرونکي مرکبونه (e.g. chloroform, dichloromethane, epichlorohydrin, carbon tetrachloride)
- اور اخيستونکي مايعات (د هغوی د ډيرو کمو اندازو په استثناء)
- له اوبو او هوا سره هر غبرگون ښودونکي مواد 4.3 وا 4.2) ټولگي) او قوي اکسيدايز کوونکي (5 ټولگي)

## د تخرشونکو لپاره عمومي قواعد

تيزابونه او القلي گاني بايد لمړی خنثی شي او بيا دستشوی ته ور واچول شي، فقط په هغه وخت کښې چې دا خنثی شوي مواد زهري نه وي. لاندې د تيزابونو او قلوي گانو هغه ليست دی چې بايد نه خنثی او نه هم دستشوی ته واچول شي:

- پرکلوريک اسيد په هر غلظت کې
- متراکم/غليظ نايتريک اسيد



- غليظ سلفوريک اسيد
- هايدروفلوريک اسيد
- د فلزاتو د لوړ غلظت درلودونکي تيزابونه او قلوي گانې او يا نور ککړونکي
- هغه تيزابونه او قلوي گانې چې د رنگونو او نورو فعالو موادو درلودونکي وي
- هر ډول عضوي تيزاب او قلوي چې له خنثی کولو وروسته بيا هم زهري وي (له ٪۸۰ د کم غلظت لرونکو اسيتيک اسيدو په استثناء، اکثره عضوي تيزابونه او مالگې).

**بې خطره کيمياوي مواد چې کولای شو د لابراتور دستشوی ته يې واچوو:**

- فزيولوژيک محلول او غيرزهري مالگې په رقيقه شوې بڼه
- غيرعضوي بفرونه (phosphate or bicarbonate based)
- د ايتيديوم برومايد لرونکي بفر محلولونه چې فلتر شوي، ضدعفوني شوي او يا تجزيه شوي وي
- عضوي بفرونه د استفادې وړ غلظت کښې (e.g., TRIS)
- د شکرونو محلولونه

د خطرناکو او بې خطرو موادو يو اوږد نوملړ شتون لري چې د لابراتوار ټول کارکوونکي او مديران يې بايد ولولي او له نظره يې تير کړي.

*يادداشت: مآخذونه او ضمايم په اصلی انگليسی متن کی په ۲۱ او ۲۴ صفحاتو تو کی موجود دی

# معياري عملياتي کړنلاره

## STANDARD OPERATING PROCEDURES (SOPs)

| | |
|---|---|
| **د لابراتوار نوم:** | |
| **د SOP عنوان:** د بیولوژيکي موادو ځای پر ځای کول، بسته بندي، لېبلول او لیږدول | |
| **شمارهٔ سند:** | **نسخه:** ۰۰۱ |
| **مدیر مسوول:** | **تاريخ موثره:** ۲۰۲۱-۰۱-۰۱ |

**د دې SOP نور مربوطه اسناد (...)**
- د حیاتي خطر د مدیریت منوال
- د لابراتوار د پاکولو او ضدعفوني کولو لارښود
- د شخصي محافظت د وسایلو SOP
- له اوتوکلاف څخه د استفادې SOP

| د بیا کتنې شمېره | تغییري شوي برخې | د تغییراتو توضیح | نېټه | تائید شوي په واسطه د |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

### لارښوونه:

د هېوادونو په منځ او ترمنځ د عفوني عواملو لېږد د مختلفو ملي، منطقوي او نړیوالو قوانینو په واسطه تنظیمېږي. پر انسانانو او څارویو د حیاتي رول د درلودلو په خاطر، د انساني او حیواني منشاء درلودونکي بیولوژيکي نمونې باید په ساحه کې په مصوونه او موثره بڼه راټولې او بسته بندي کړای شي او د تحلیل او مطالعې ځای ته په قانوني بڼه ولېږدول شي.

- ### موخه:

د دې سند موخه له ساحې څخه د عامې روغتیا او وترنرۍ مرکزي او نورو ملي لابراتوارونو ته د عفوني عواملو ځای پر ځای کول، بسته بندي او لېږد ده، ترڅو اطمینان حاصل شي چې د دې موادو بسته بندي، لېبلول، ضدعفوني کول او لېږدول په موثره توګه اجرا شوي او کارکوونکي، چاپېریال او ټولنه د دې موادو د لېږد په وخت کې مصوونه پاتې شوي او یادې شوې نمونې د تشخیصي اهدافو په خاطر په سالمه توګه انتقال شوي.



- ### حوزه/پراخوالی

دا لاښود پر هغو ټولو لابراتواري کارکوونکو چې د عامې روغتیا، وترنرۍ او یا نورو تشخیصي او څېړنیزو، دولتي او یا خصوصي لابراتوارونو کې کار کوي، د عملي کولو وړ دی.

- ### مسؤلیتونه

د بیولوژيکي موادو د بسته بندۍ، لېبلولو او لېږد په پروسه کې ټول دخیل کارکوونکي باید د اړوندو ملي، منطقوي او نړیوالو قواعدو په باره کې کافي زده کړې ولري او د موضوع په رابطه کافي عملي او نظري پوهه او مهارتونه هم ولري.

ټول بیولوژيکي مواد باید داسې په چټکه او موثره توګه ولېږدول شي تر څو د پروسس، بسته بندۍ او لېږد د پروسې کارکوونکو ته ډېر کم خطر متوجه کړي او نمونې هم په سمه توګه ولېږدول شي.

د بیولوژيکي موادو په سمه توګه انتقال د دې موادو لیږونکي، لیږدونکي او لاسته راوړونکي سمې همغږۍ ته اړتیا لري ترڅو یاد شوي مواد په سمه توګه انتقال او په لنډ وخت کې په سمه بڼه مقصد ته ورسیږي.

- ### لېږونکی

لېږونکی د صادروونکي او لاسته راوړونکي هېواد د مسؤلینو په واسطه د اړتیا وړ ټولو لازمو اسنادو (سرټفکیت، اجازه لیک) د برابرولو مسؤل دی او باید اطمینان حاصل کړي چې لیږدونکي مواد له ټولو ملي، منطقوي او نړیوالو قوانینو سره برابر دي او په مناسبه بڼه عیار شوي.

۱. د بیولوژيکي موادو له لېږد څخه مخکې، لیږونکی باید د لاندې موادو د برابرولو وړتیا ولري:
   - د بسته بندۍ پېژندنه او طبقه بندي د تودوخې کنټرول، د مقداري محدودیتونو څخه د ډاډمنتوب، نښانو او بیولوژيکي موادو د بسته بندۍ په شمول
   - د ټولو هغو بیولوژيکي موادو له مستند کولو څخه اطمینان چې د لېږد لپاره په نظر کې نیول شوي وي
   - د اړتیا په صورت کې د خطرناکو موادو د انتقال لپاره د یوې اظهارنامې تولید او تکمیل (Shipper's Declaration for Dangerous Goods (DGD)
   - له دې څخه اطمینان چې د نظر وړ مواد لېږد بند ندی

۲. د اجازه نامې، د لېږلو او وړلو اسنادو په شمول د ټولو اسنادو برابرول

۳. مخکې له مخکې د لیږل شوو موادو د رسیدلو او مدیریت په باره کې له لاسته راوړنکي سره اړیکه ونیسئ او د رسیدلو د متوقعه وخت په باره کې هغه خبر کړئ

۴. هوایي لارلیک (air waybill) د هوا له لیارې د موادو د انتقال لپاره معیاري سند دی. سربېره پر دې چې هوایي لیکې او یا انتقالوونکي کمپنۍ هوایي لارلیک تکمیلوي، اما د موادو لیږونکی مسوولیت لري ترڅو هغه برابر کړي

۵. مخکې له مخکې له لاسته راوړونکي سره اړیکه ونیسئ تر څو مطمئن شئ چې لیږل شوي مواد هغه هېواد ته د داخلېدو اجازه لري او که نه.

٦. له لاندې ټکو څخه د اطمینان په خاطر باید له لیږدونکي سره مخکني تنظیمات ولرئ:
- دا چې د لېږد وړ مواد به د مناسب ترانسپورټ لپاره قبول شي
- دا چې د لېږد وړ مواد به له مستقیمې لیارې او په لږ وخت کې ولېږدول شي

## لیږدونکی

١. لیږدونکی باید لاندې معیارونه په نظر کې ونیسي:
- د لېږد لاره: د موادو د لېږد لپاره باید لنډه او مصوونه لیاره وټاکل شي
- متقاطع لېږد: کله چې یو لیږدونکی مواد د لیږد لپاره بل لیږدونکي ته حواله کوي، د بیولوژیکي موادو د ځای پر ځای کولو پر وخت کې باید له حفاظتي او امنیتي پلوه کامل اطمینان موجود وي.

٢. د هوا له لیارې د لېږد لپاره، لیږونکی باید د ټولو هوایي انتقالاتو په باره کې مالومات ولري او بهتره ده د موادو د انتقال د اطمینان په خاطر یو چک لیست جوړ کړي، دا چې:
- نښاني کول او لېبل وهل د منل شوو معیارونو مطابق دي
- د اړتیا وړ اسناد تکمیل دي

٣. د موادو د لیږونکي لپاره د لېږد د اړتیا وړ موادو په باره کې توصیې او لازم کمک او د ډکولو او بسته بندۍ لپاره لازمي لارښووني وړاندې کړي
٤. لیږونکي ته د بیولوژیکي موادو د انتقال په باره کې کمک او لازمي لارښووني او دا چې څنګه کولای شي انتقال شوي مواد تعقیب کړي، وړاندې کړي
٥. د موادو د حمل او لېږد په باره کې ټول اسناد له ځان سره وساتي.

## لاسته راوړونکی

١. د هیواد له چارواکو دې د بیولوژیکي موادو د واردولو اجازه ترلاسه کړي
٢. د لیږونکي لپاره دې د واردولو اجازه لیک، د صلاحیت مکتوب او یا نور اسناد چې هغه هیواد ته د دې موادو د داخلیدو په وخت کې اړین دي، برابر کړي
٣. د لېږل شوو بیولوژیکي موادو د اخیستو په صورت کې دې، چې کله هغه رسیدلي وي، لازم تنظیمات اجرا کړي
٤. د موادو له رسیدو دې لېږونکی ته اطمینان ورکړي
٥. د لېږلو وړ مواد دې د لیږونکي، لیږدونکي او لاسته راوړونکي تر منځ د لازمو ترتیباتو له تکمیلولو مخکې نه لیږدوي

## لمړني اقدامات:

**١. مواد**
- لمړني لوښي (سرپوښ لرونکو پلاستیکي لوښو ته ترجیع ورکول کیږي)
- دوهمي لوښي (چسپ داره پلاستیکي پلاکت، پلاستیکي ټیوب او یا سرپوښ لرونکی بوتل)
- اوبه جذبونکي مواد (اوبه جذبونکی کاغذ، کاغذي دستمال، د تشناب کاغذ، پنبه)
- خارجي کانتینر



- د لېبل وهلو مواد
- نظر د موادو رقم او حالت ته د شخصي محافظت وسایل
- د لېږد اسناد

**٢. فورمې**
- د خطرناکو موادو د انتقال اظهارنامه (Dangerous Good Transport declaration form)
- air waybills

## د کار د اجرا پروسه:

## طبقه بندي

کله چې بیولوژیکي مواد لېږدول کیږي، لیږونکی باید دا مشخصه کړي چې یاد شوي مواد د خطرناکو محمولو څخه ګڼل کیږي او که نه. خطرناکي محمولې هغو موادو ته ویل کېږي چې کولای شي انسانانو، څارویو او نورو ژوندیو موجوداتو او چاپیریال ته زیان ورسوي، چې هغه د ملګرو ملتونو د قوانینو په اساس لېږدول کیږي. د مختلفو کټګوریو په اساس، خطرناکو محمولو ته د UN شماره او د لېږد مناسب نوم (UN number and proper shipping name) مشخصیږي.

د لېږد قواعدو د UN شماره او د انتقال مناسب نوم په اړوند د بسته بندۍ یو مشخص لارښود ځانګړی کړی، تر څو خطرناکي محمولې د لېږد پر وخت کې خطرجوړونکي نه وي عفوني مواد د خطرناکو محمولو په توګه طبقه بندي شوي او هغوی ته یې UN ۲۸۱۴, UN ۲۹۰۰, UN ۳۳۷۳, or UN ۳۲۹۱ شماري ځانګړې کړې دي (۱ شکل).

که په بیولوژیکي موادو کښې موجوو مایکروارګانیزمونه انسانانو او څارویو ته د ناروغولو او صدمې رسولو وړتیا لري، نو دا باید په A او B کټګوریو وویشل شي.

د لېږد مناسب نوم باید د محمولي پر پوښ او د ناروغوونکي عامل علمي نوم باید د مربوطه اسنادو په داخل، مګر نه د محمولي پر پوښ، یاد شي. کله چې د لیږدونکو بیولوژیکي موادو داخلي محتوا معلومه نه وي، مګر د A کټګورۍ د ځانګړنو درلودونکو موادو موجودیت احتمال پکښې وي، داsuspected «category A infectious substance” کلمات دې د لېږد د مناسب نوم وروسته د قوس په داخل کې په اسنادو کې یاد شي.

**١. د A کټګوري (Category A)**

د A کټګورۍ له هغو عفوني موادو څخه عبارت ده چې د لېږد په وخت کې له هغه سره د مخ کېدو په صورت کې هغه د عمري ناتوانۍ، د ژوند د ګواښوونکي حالت او یا په انسانانو او څارویو کې د وژنکي ناروغۍ سبب کېږي. د دې کټګورۍ موادو لپاره UN 2814 or UN 2900 شمیرې ځانګړې شوي (۲ شمېره جدول)، مګر د لېږد وړ نمونو ته د دې شمېرو ځانګړې کېدل باید د مبتلا انسانانو او څارویو د ځانګړو طبي تاریخچو، نښانو او د نمونې د سرچینې انفرادي حالتونو، په ساحه کښې د ناروغۍ انډمیکو حالتونو او د مسلکي قضاوت له مخې، وشي.

ځیني ناروغوونکي عوامل صرف د کلچر په حالتونو کښې د A په کټګورۍ کې حسابیږي (مثلا د انترکس او تبک ناروغیو عوامل) (۲ جدول)، مګر بعضې نور د ناروغ په نمونو کې هم د A په کټګورۍ کې حسابیږي (مثلا د ایبولا ناروغۍ عامل). هغه ناروغوونکي عوامل چې تازه پیدا وي او د یادې شوې کټګورۍ په لیست کښې نه وي، مګر د دې کټګورۍ ځانګړنې ولري، باید د A په کټګورۍ کې حساب شي. سربیره پر دې، که چیرې شکمن وي چې آیا یو مشخص ناروغوونکي عامل په دې کټګورۍ پورې اړه لري او که نه، بیا هم باید په A کټګورۍ کښې حساب شي.

ځیني عفوني مواد چاپیریال ته د خپریدو په صورت کې ممکن پر بعضو ځانګړو هیوادونو سخت اقتصادي او تجارتي تاثیرات ولري، ځیني عفوني مواد ممکن د مشخصو هیوادونو له لوري د A کټګورۍ په لیست کې ور اضافه شي (د بیلګې په توګه د نیوکاستل ویروس کلچرونه له دې ویروس څخه په عاري منطقو او هیوادونو کښې).

د عفوني موادو درلودونکي د A کټګورۍ ځیني طبي او کلینیکي پاتې شوني باید د 2814 or UN 2900 په توګه وپیژندل شي. د عفوني موادو درلودونکي د A کټګورۍ جامدې پاتې شوني چې د انسانانو او څارویو د درملنې له امله تولیدیږي، د3549 UN شمېره ځانګړې کیږي. په یاد ولرئ، چې د طبي څېړنو په پایله کښې د کلینیکي او یا طبي پاتې شونو او یا مایع پاتې شونو ته د UN 3549 شمېره ځانګړې نکړئ.

## ۲. د B کټګوري (Category B)

د ناروغوونکو عواملو درلودونکي بیولوژیکي مواد چې د A کټګورۍ له ځانګړنو سره ځنګ و نه لګوي (په انسانانو او څارویو کې د ژوند د ګواښوونکو حالتونو سبب نشي) باید د B کټګورۍ په توګه و پیژندل شي او هغوی ته د۳۳۷۴ UN شمېره ځانګړې شي.

معمولا د تشخیص لپاره د ناروغوونکو عواملو درلودونکي نمونې (مثلاً د کلینیکي حالتونو تائیدي تشخیص، د نمونو د تفریقي تشخیص لګه د چرګانو د ستونې د سواب نمونې د چرګانو د انفلونزا لپاره) کیدای شي د B کټګورۍ کې حساب شي.

باید په یاد ولرئ چې د کلچرونو برعکس، د ناروغ نمونې چې د عفوني ناروغوونکو عواملو درلودونکي وي، مګر صرف د هغوی کلچر د په A کټګورۍ کې حسابیږي، د لېږد پر وخت کښې باید د A کټګورۍ احتمالات پر هغوی تطبیق نشي، بلکه برعکس د B کټګورۍ احتمالات پر هغوی د تطبیق وړ دي (۲ شمیره جدول باید وکتل شي). اما له تجربوي څارویو څخه نمونه چې هغوی ته د A کټګورۍ عوامل په قصدي توګه زرق شوي وي، باید د A کټګورۍ په توګه ولېږدول شي، حتی د دې نمونو صرف کلچر (only culture) هم د A کټګورۍ په توګه په ۲ جدول کښې ذکر شوئ.

د B کټګورۍ بیولوژیکي موادو درلودونکو کلینیکي او یا طبي پاتې شونو ته د ۳۲۹۱ UN شمېره ځانګړې شوې.



## ۳. معافې نمونې (Exempt specimens)

هغه انساني او د څارویو نمونې چې په هغوی کښې د ناروغوونکو عواملو د موجودیت احتمال ډېر کم وي، د معافو نمونو په توګه د انتقال وړ دې. دغه ډول نمونې د ګلوکوز، کولسترول، هورمونونو او داسې نور، لپاره د وینې او متیازو نمونې، د مختلف ډوله سرطانونو د مشخصو مارکرونو د بررسۍ لپاره د بیوپسۍ نمونې او د واکسین په مقابل کښې د ځواب ورکولو د لاسته راوړلو لپاره ایمیونولوژیکي څېړنې او یا خپل معافي او نورې نمونې شاملې دي، چې معمولا د ساري ناروغیو لپاره نه معاینه کیږي. د معاف په توګه د یوې نمونې ځانګړي کول درسي او مسلکي قضاوت ته اړتیا لري او د طبي تاریخچې، نښانو او د جداګانه حالتونو اندمیک والی او جداګانه ناروغیو بررسی ته اړتیا ده. د وترنرۍ په برخه کې د معافو نمونو مشخصې بیلګې د سرویلانس له مطالعاتو نمونې، د حیواناتو د روغتیا د تائید لپاره د صادراتي موخو لپاره او یا هم د انفرادي څارویو د حالت د مشخصولو لپاره نمونې او یا هم د څارویو جمعیتونه د واکسین له تطبیق وروسته، درلودونکي دي.

سربېره پر دې چې د خطرناکو محمولو قوانین پر معافو نمونو نه تطبیقیږي، مګر بیا هم باید د بسته بندۍ درې ګوني قواعد د موادو د خپریدو د مخنیوي په خاطر عملي شي (۳-٦ شکل او ۵ جدول).

## ۴. هغه بیولوژیکي مواد چې د خطرناکو محمولو قواعد پر هغوی بانې نه تطبیقیږي

د انسانانو او څارویو د معلومې تاریخچې پراساس، د بیولوژیکي موادو د منابعو مشخص علایم او حالات، او په ساحه کښې د انډمیکو ناروغیو حالات، مواد د خطرناکو محمولو تر قوانینو لاندې ندي راغلي، مګر دا چې دوی د هغو مشخصاتو درلودونکي وي چې په نورو ټولګیو کښې شامل شي (مثلاً ۹ ټولګی).

۱. بیولوژیکي مواد چې د عفوني موادو درلودونکي نه وي
۲. د انسانانو او څارویو لپاره د غیرناروغوونکو میکروارګانیزمونو درلودونکي بیولوژیکي مواد
۳. بیولوژیکي مواد په داسې شکل کښې چې په هغوی کښې ناروغوونکی عوامل خنثی او یا غیرفعال وي چې د روغتیا لپاره د خطر سبب نه ګرځي
۴. د خوراکي موادو او اوبو په شمول چاپېریالي نمونې چې د عفونت سبب نه شي ګرځیدای
۵. د وینې وچ چاپونه، چې جذبوونکو موادو باندې د یو څاڅکي وینې د توئیدو په وسیله لاسته راځي

یاددښت: باید په یاد ولرئ چې بعضې هیوادونو کښې د هستوي اسیدونو (DNA/RNA) د لېږد، صادرولو او واردولو لپاره مشخص متفاوت قوانین ممکن موجود وي.

- **بسته بندي (packaging)**

### ۱. اساسات

ټول بیولوژیکي مواد باید ملي، منطقوي او نړیوالو قوانینو سره په مطابقت کښې بسته بندي او ولېږدول شي. دا پروسه باید هغو کارکوونکو ته چې د انتقال په بخش کې کار کوي د ناروغوونکو عواملو سره د مخ کېدو خطر حد اقل ته ورسوي او چاپېریال او حساس جمعیتونه له بالقوه عواملو سره له مخ کېدو وساتي. پردې سربېره، غیر موثره بسته بندي، نمونې او د لېږد ساتونکي مواد (لکه یخ) له ماتېدو او سوري کېدو څخه نه ساتي او لابراتوار ته د نمونو د رسېدلو پروسه له ځنډ سره

مخ کوي او په لابراتوار کې د نظر وړ تحلیلونه هم ځنډوي. نو له دې امله بیولوژیکي مواد باید همېشه داسې بسته بندي او ولېږدول شي تر څو د نمونې بشپړتیا وساتل شي او همدارنګه په نورو موادو او چاپېریالي ککړوونکو د نمونو له ککړتیا څخه مخنیوی وشي. د درې مخیزې بسته بندۍ د اصولو په نظر کې نیولو سره د موادو د انتقال لپاره حداقل اړتیاوې په لاندې توګه تشریح کیږي:

- یو لمړنی لوښی
- یوه دویمي بسته
- یوه باندنۍ بسته

**چې دویمي لوښی او باندنۍ بسته باید کلک وي.**

**لمړنی لوښی:** لمړنی لوښی باید د مایعو نمونو لپاره د تراوش په مقابل کښې مقاوم (leak-proof) او د جامدو نمونو لپاره د ضربې په مقابل کې مقاوم وي. لمړني لوښی باید د کافي جاذبو موادو سره یوځای په دویمه بسته کې کېښودل شي تر څو د لمړني لوښي د ماتیدو په صورت کې مایعات جذب کړي. سره له دې چې قوانین د شیشه یې لوښو د کاروني مانع نه دي، مګر بهتره ده چې لمړني لوښي ماتیدونکي نه وي. سر بیره پر دې، لمړني لوښي باید غوڅونکي نه وي (د بیلګې په توګه د وینې اخیستلو ټیوب له ستنې سره)، په ځانګړې توګه کله چې دویمي او دریمي لوښی نرم وي. که چیرې د تاوېدونکي سرپوښ والا ویالونه د لمړنیو لوښو په توګه کارېږي، د هغوی سرپوښ باید د رابرټیپ په وسیله کلک کړای شي، مګر هغه ویالونه چې سرپوښونه یې تاویدونکي نه وي باید استعمال نه شي (6 – 3 شکلونه او 5 جدول وګورئ).

دویمی پوښ: د بیولوژیکي موادو د لېږد لپاره یو دویمی باثباته او د لیکاژ (تراوش) په مقابل کښې مقاوم لوښی باید د لمړني لوښي د ساتنې لپاره استعمال شي. دا پوښ کیدای شي یو چسپ لرونکی پلاستیکي پاکټ، پلاستیکي لوښی او یا د تاویدونکي سرپوښ والا بوتل وي.

لمړنی او یا دویمی لوښی باید په منفي ۴۴ نه تر مثبت ۵۵ تودوخه کښې د ۹۵ کیلوپاسکاله داخلي فشار مقاومت ولري.

باندنی پوښ (دریمی پوښ): دویمی بسته باید په یوه مقاومه دریمی باندنۍ کڅوړه کښې چې د لیبل وهلو لپاره مناسبه وي کېښودل شي. دریمی پوښ د نمونې محتوا له باندنیو تاثیراتو لکه فزیکي تخریب څخه د لېږد پر وخت کښې ساتي. د دریم پوښ ځانګړنې په لاندې ډول دي:

- باید کلک او محکم وي
- د کڅوړې کوچنی بُعد باید له ۱۰ ملی متره کم نه وي.
- د بستې د دننۍ محتوا ټول جزئیات د مناسب انتقالي نوم او په عفوني ماده کښې د پروت بیولوژیکي عامل د علمي نوم په شمول باید د قوس په داخل کښې (که د A کټګورۍ د شتون شک موجود وي، مګر دا حالت څرګند نه وي، باید "suspected Category A infectious substance" ولیکل شي) په دویمه او دریمه کڅوړه کې ځای پر ځای شي.

د ملګرو ملتونو د اصولو او د اړوندې بسته بندۍ د لارښود پر اساس، د عفوني موادو د انتقال لپاره درې بیلې کټګورۍ د تطبیق وړ دي:



- A د P620 کټګورۍ د عفوني موادو د انتقال لپاره
- B د P650 کټګورۍ د عفوني موادو د انتقال لپاره
- P621 د هغو طبی او کلینیکي پاتې شونو د انتقال لپاره چې د B کټګورۍ عفوني مواد درلودونکي وي

## ۲. د A کټګورۍ لپاره د P٦٢٠ بسته بندۍ لارښود

د A کټګورۍ نمونو د ډېر خطرناکه طبیعت له امله، بسته بندیانې ځانګړو اړتیاوو ته ضرورت لري. دلته د درې مخیزې بسته بندۍ اساسات تطبیقیږي او د انتقال لوښي او خارجي پوښونه باید په اړونده قوانینو کښې مشخص تعریف شوي معیارونه پوره کړي. د A کټګورۍ نمونې باید صرف په هغو بسته بندیو کښې چې د ملګرو ملتونو ٦،٢ ټولګي مشخصات یې پوره کړي او یا د P٦٢٠ بسته بندۍ د لارښود سره اړخ ولګوي، ځانګړي آزمېښتونه یې تیر کړي او د P٦٢٠ مخصوصو علامو درلودونکي وي، ولېږدول شي. په دې برخه کې د مشخصو آزمېښتونو تیرول، له ۹ متره د غورځولو آزمېښت، د سورۍ کولو آزمېښت، د فشار آزمېښت او دضربی آزمېښت (۳ شکل) څخه عبارت دي. نو پر دې اساس، یاده شوی بسته باید داسې لیبل کړای شي تر څو د بستې د محتوا اړوند معلومات، د خطر طبیعت او د تطبیق شوې بسته بندۍ معیارونه وړاندې کړي.

### د هوايي لېږد لپاره:

۱. لمړني او یا دویمي لوښي باید د نه سوري کېدو مقاومت او د ۹۵ کیلوپاسکاله داخلي فشار د تحمل وړتیا ولري
۲. لمړني او یا دویمي لوښي باید د منفی ۴۰ څخه تر مثبت ۵۵ سانتي ګراد پورې د تودخې د درجې تحمل ولري
۳. د مایعاتو لپاره: د مسافر سره د حمل په صورت کښې باید هره P٦٢٠ بسته له ۵۵ میلي لېترو څخه زیات خالص عفوني مواد ونه لري او پر باربري طیاره کې د لېږد په صورت کښې دا مقدار باید له ۴ لیترو (په څو لمړنیو لوښو کې) اضافه والی و نکړي.
۴. د جامداتو لپاره: د مسافر سره د حمل په صورت کښې باید هره P٦٢٠ بسته له ۵۰ میلي ګرامو څخه زیات خالص عفوني مواد و نه لري او پر باربري طیاره کې د لېږد په صورت کښې دا مقدار باید له ۴ کیلو ګرامو (په څو لمړنیو لوښو کې) اضافه والی و نکړي. دا مقداری محدودیت د ځارویو پر اعضاو او ټول جسد د تطبیق وړ نده.

## ۳. د B کټګورۍ لپاره د P٦٥٠ بسته بندۍ لارښود

په یوه بسته کې د B کټګورۍ اړوندي نمونې چې باید د P٦٥٠ بسته بندۍ د لارښود له اړتیاو سره اړخ ولګوي، ولېږدول شی (۴ او ۵ شکل). د A په کټګورۍ کې اکثر موجود مشخصات د B کټګورۍ په بستو هم د تطبیق وړ دي او د B کټګورۍ کې یواځینی عمده تفاوت د ١،٢ غورځولو آزمېښت د A کټګورۍ د ۹ مترو پرځای ده. د P٦٥٠ بستې عمده ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

۱. لمړني او یا دویمي لوښي باید د نه سوري کېدو مقاومت او د ۹۵ کیلوپاسکاله داخلي فشار د تحمل وړتیا ولري
۲. لمړني او یا دویمي لوښي باید د منفی ۴۰ څخه تر مثبت ۵۵ سانتي ګراد پوری د تودخی د درجی تحمل ولري

۳. د مایعاتو لپاره: لمړني لوښي باید له ۱ لیتر څخه زیات او د څو لمړنیو لوښو درلودونکې باندنۍ بستې مجموعي مقدار باید له ۴ لیتره څخه زیات نشي.
۴. د جامداتو لپاره: باندنۍ بسته باید له ۴ کیلوګرامو ډیره نشي. دا مقداري محدودیت د ځارویو پر اعضاو او ټول جسد د تطبیق وړ ندی.

## ۴. د طبي او کلینیکي پاتې شونو لپاره د P۶۲۱ بسته بندۍ لاربښود

د B کټګورۍ اړوند د عفوني موادو درلودونکي طبي او کلینیکي پاتې شوني باید د P۶۲۱ مطابق په بسته بندي شوې محتوا کې ولیږدول شي او د UN ۳۲۹۱ شماره هغې ته ځانګړې شي.

په عمومي توګه د UN ۳۲۹۱ کوډ کښې شاملې طبي او کلینیکي پاتې شوني د درې مخیزې بستې سره د مطابقت اړتیا نلري . نو پر دې اساس د دې کټګورۍ بسته بندي ممکن د مختلف ډوله لوښو په وسیله ترسره شي چې بشکې، بکسونه، بېلرونه او نور ډوله کانتینرونه پکې شامل دي او دا د « II ګروپ بسته بندۍ» بسته بندۍ مطابق ملګرو ملتونو د اجرا سطحی سره اړخ ولګوي. د II سطحې ګروپ ممکن د مایعاتو او جامداتو لپاره فرق ولري، مګر عفوني مایع مواد باید د جاذبو موادو له کافي مقدار سره چې په لوښي کې ټوله موجوده مایع جذب کړي، بسته بندي شي.

په آخر کې، د UN ۳۲۹۱ کټګورۍ پورې اړوند عفوني مواد چې ممکن د پریکوونکو شیانو لکه ماتې شوې شیشې او یا ستنو درلودونکي وي، باید د سوري کېدو په مقابل کې مقاوم وي او مواد له هغه څخه خپاره نشي.

## ۵. معافې نمونې

د معافو نمونو د لېږد لپاره د هغوی د بسته بندۍ لپاره مشخصې اړتیاوې شتون نلري، مګر بسته باید د فشار پر وړاندې مقاومت ولري او سورۍ نشي. باید په یاد مو وي چې اوس هم دمعافو نمونو لپاره د درې مخیزې بسته بندۍ اړتیا شته (۶ شکل) او د هغوی په لېبل کې باید د "Exempt human or animal specimens" جمله ولیکل شي.

## ۶. هغه بیولوژیکي مواد چې د خطرناکو محمولو قواعد پر هغوی نه تطبیقیږي

په دې معافیت کې هغه بیولوژیکي مواد چې د عفوني موادو درلودونکي نه وي شامل دي، نو د خطرناکو محمولو قواعد پر هغوی نه تطبیقیږي (لکه د ۲،۶ ټولګی) او د دې موادو د لېږد لپاره د خاصو شرایطو نیازمندي نشته، مګر چې د نورو ټولګیو لکه ۹ ټولګې مواد په محموله کې موجود وي.
یاددښت: باید په یاد ولرئ چې په بعضی هېوادونو کښې د هستوي اسیدو د حمل، لېږد، صادرولو او واردولو لپاره ممکن ځانګړي قواعد شتون ولري.

## ۷. یوځایي بسته (overpack)

پهرکله چې د بیولوژیکي موادو څو بستې په یوه غټه بسته کې ځای پر ځای شوې وي او عین هدف ته د یو لیږونکی له خوا واستول شي، د هغې لپاره د overpack اصطلاح کارول کیږي. کله چې د بستې د محتوا د ساتنې لپاره سړونکي مواد کارول کیږي، overpack ممکن د غټو فلاسکونو



درلودونکی وي. کله چې overpack کارول کیږي، هغه نښاني او لېبلونه چې د بستې په باندني پوښ کې شتون ولري، باید د overpack پر شا تکرار شي. دا معیار د A او B کټګورۍ په شمول پر ټولو عفوني موادو د تطبیق وړ ده. سربیره پر دې د دې بستې پر شا باید د overpack کلمه شتون ولري.

باید په یاد ولرو چې په یوه یوځایي بسته کې کولای شو د مختلفو عفوني موادو کټګوریاني ځای پر ځای کړو، چې په دې صورت کې باید د هغې پر شا د خطرناکترینې بستې لېبل و نښلول شې.

## ۸. په سړه زنجیره کې لېږد (Cold chain Transportation)

سړونکي مواد د لېږد پر وخت کښې د نمونو د ثبات او ساتنې لپاره، کارول کېږي. یخ، د یخ پاکټونه او وچ یخ د دویمو او دریمو لوښو په منځ کې کیښودل شي. عادي یخ باید د خپریدو مقابل کښې مقاوم لوښي کې کېښودل شي او باندنی پوښ هم باید عین مشخصات ولري.

د انفجار د خطر له امله وچ یخ (جامد کاربن ډای اکسایډ) باید د لمړني او یا دویمي لوښي په داخل کې کښې نه ښودل شي. له وچ یخ څخه د استفادې په صورت کښې، دریم لوښی باید د لازم مقاومت درلودونکی وي او د هغې مشخصات باید داسې وي چې د کاربن ډای اکسایډ ګاز د وتلو اجازه ورکړي. سر بېره پردې د دریم لوښي او یا یوځایي بستې پر شا باید د UN ۱۸۴۵ کوډ او مناسب انتقالی نوم "Carbon dioxide, solid as coolant" or "Dry ice as coolant" او د دې مادې مقدار په کیلوګرام ذکر شي. دویم لوښی باید له باندني پوښ سره محکم شي تر څو د یخ د ویلي کېدو په صورت کې د بستې په داخل کې د لمړني او دویمي لوښي شیب ګډ وډ نشي.

## ۹. د بستو بیاځلي استفاده ( Reused Packaging.)

د بستو مواد کیدای شي بیاځلي هم استفاده شي. مخکې له دې چې خالي بستې بیرته لیږونکی ته واستول شي او یا بل ځای ولېږل شي، هغه ټولې باید ضد عفوني او یا تعقیم کړای شي، تر څو د عفوني موادو سره اړوند خطر بېخي له منځه ولاړ شي. سر بېره پر دې هر لېبل او پر بستو موجودې نښاني هم باید په کامله توګه لیري کړای شي. استفاده شوې بستې هغه وخت کیدای شي بیا استفاده شي چې د موادو د انتقال لپاره لازم کیفیت پکې شتون ولري او د A او B کټګورۍ لپاره لازم آزمیښتونه تیر کړای شي. که چیرې استفاده شوې بستې تخریب شوې وي او یا یې خپل لازم مقاومت له لاسه ورکړی وي، باید استفاده نشي.

## • لېبلول (Labeling)

د عفوني موادو پر بستو دوه ډوله لېبلونه د تطبیق وړ دي: د خطر لېبلونه او د ځای پر ځای کولو لېبلونه (۴ جدول ته مراجعه وکړئ).

### ۱. د A کټګوري

د ملګرو ملتونو د شمېرو پراساس د A کټګورۍ لپاره د لېږد مناسب نوم په لاندې ډول ده:
د هغو عفوني عواملو لپاره چې انسانان مبتلا کوي د زونوز (zoonoses) عواملو په ګډون: "UN ۲۸۱۴, Infectious substance affecting humans"
د هغو عفوني عواملو لپاره چې صرف ځاروي مبتلا کوي UN ۲۸۱۴, Infectious substances affecting animals, only
که چېرې د A په کټګورۍ کې د شاملو عفوني موادو محتوا معلومه وي، د یاد شوي عامل

علمي نوم د قوس په داخل کې د بستې په موجوده اسنادو کښې اضافه کیږي، مګر نه د بستې پر شا، د بیلګې په توګه:
UN ۲۸۱۴, Infectious substance affecting humans (Mycobacterium tuberculosis cultures).

مګر که په نمونه کې موجود بیوژیکي عامل معلوم نه وي خو د A کټګورۍ د مشخصاتو درلودونکې وي، په دې صورت کې د مناسب انتقالي نوم څخه وروسته "suspected Category A infectious substance" په هغه کې اضافه شي. په ټولیزه توګه د لیږد د بستې پر شا موجودې نښانې او لیبلونه په لاندې ډول دي (۳ شکل):

۱. د لیږونکي او لاسته راوړونکي پته د عاجلې اړیکې د شمېرې په شمول چې د اوونۍ په جریان کې د مسؤل شخص په نامه ۲۴ ساعته د لاسرسۍ وړ وي، د بستې پر شا بایـد د دې یادونه وشي تر څو بسته په مصوونه بڼه د هدف وړ ځای ته ورسیږي.
۲. د لیږد مناسب نوم او د ملګرو ملتونو شمېره
۳. د عفوني موادو لیبل
۴. د P۶۲۰ بستې لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې شمېره (۴ جدول و ګورئ)
۵. د بستې د پېژندنې لیبل، صرف د باربري طیاري په وسېله لیبل (نظر د لیږونکو موادو مقدار ته)

## ۲. د B کټګوري

د B کټګورۍ بیولوژیکي موادو لپاره د ملګرو ملتونو کوډ او د لیږد مناسب نوم په لاندې ډول ده:
UN ۳۳۷۳, Biological substance, Category B.
مګر په ټولیزه توګه باید لاندې نښانې او لیبلونه د دې کټګورۍ بیولوژیکي موادو د بستې پر شا شتون ولري.

۱. د لیږونکي او لاسته راوړونکي پته د عاجلې اړیکې د شمېرې په شمول چې د اوونۍ په جریان کې د مسؤل شخص په نامه ۲۴ ساعته د لاسرسۍ وړ وي، د بستې پر شا بایـد د دې یادونه وشي تر څو بسته په مصوونه بڼه د هدف وړ ځای ته ورسیږي.
۲. د لیږد مناسب نوم او د ملګرو ملتونو شمېره په حروفو کې چې حد اقل ۶ ملي متره لوړوالی ولري
۳. د الماسو مخصوص سمبول (UN۳۳۷۳)

## ۳. معاف (Exempt)

هره هغه ماده چې د معاف په توګه پېژندل شوې وي، د هغې د لیږد مناسب نوم په لاندې ډول دی:
"Exempt human specimen" or "Exempt animal specimen"

دا مواد صرف په درې مخیزو بستو کې بې له دې چې پر هغوی کوم اضافي اصول تطبیق شي، لیږدول کیږي. نور معاف شوي مواد هم په همدې بڼه د ځمکې او هوا له لیارې لیږدول کیږي. هیڅ کوم مقداري محدودیت او د لیږد لاره (هوایي، ځمکنۍ، موټر، اورګاډی) د انساني او حیواني معاف کړل شوو نمونو لپاره په هره بسته کښې شتون نه لري.



## ۴. پاتي شوني (Waste)

هرکله چې عفوني مواد د کلینیکي او یا طبي پاتي شونو په بڼه شتون ولري او د داسې بیولوژیکي عواملو درلودونکي وي چې د A کټګورۍ ځانګړنې و نلري، په دې صورت کې د UN ۳۲۹۱ مخصوصه شمېره هغوی ته ځانګړې شوې او د هغوی د لیږد مناسب نوم د هغوی محتوا او سرچینې ته په کتو په لاندې ډول ده:

- Clinical waste, unspecified, n.o.s.
- Biomedical waste, n.o.s.
- Regulated medical waste, n.o.s.

**یاددښت:** د N.O.S. لنډوالی د "not otherwise specified". لپاره ده. د لیږد یو څه نور مناسب نومونه هم ممکن شتون ولري، نو په دې باره کې همېشه اړوند قواعد مرور کړئ.

باید په یاد ولرۍ که چیرې یادې شوې پاتې شونې د A کټګورۍ د بیولوژیکي عواملو درلودونکي وې، باید د هماغې کټګورۍ (UN ۲۸۱۴) مطابق لیبل کړای شي، نه د پاتې شوني په توګه.

## ۵. وچ یخ (Dry Ice)

وچ یخ د عفوني موادو په لیږدونکو بستو کې یو له معمولو سړوونکو څخه ده. دا د ملګرو ملتونو د ۹ ټولګي د خطرناکو محمولو اړوند ده: Miscellaneous dangerous substances and articles
د وچ یخ لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی نوم او کوډ په لاندي ډول ده: "Dry ice" or "Carbon dioxide, solid" and the UN number UN ۱۸۴۵.

## ٦. مایع نایتروجن (Liquid Nitrogen)

مایع نایتروجن هم د بیولوژیکي موادو په لیږدونکو بستو کې یو له معمولو سړوونکو څخه ده چې استفاده کیږي. دا ماده د ملګرو ملتونو د خطرناکو محمولو په ۲ ټولګي پورې اړوند ده: Dangerous Goods Class ۲: Gases

د مایع نایتروجن لپاره ځانګړی شوی نوم او کوډ په لاندې ډول ده:
"Nitrogen refrigerated liquid cryogenic liquid" and the UN number UN ۱۹۷۷.

له مایع نایتروجن څخه هغه وخت کار اخیستل کیږي چې د نمونې د پشپړتیا د ساتنې لپاره ډېرې کمې تودوخې ته اړتیا وي. نو د سړوونکي په توګه د دې مادې څخه د استفادې په صورت کښې، لمړنۍ او دویمې لوښی باید ډیره کمه تودوخه بې له آسیبه تحمل کړای شي.

## ۷. یوځایي بستې (overpack)

له یوځایي بستو څخه په یوه محموله کښې د څو بستو د انتقال د استفادې په صورت کښې، د لیږد مناسب نوم، په اصلي داخلي بسته کښې کوډ او موجودې نښانې، د پوښ پر سر یوځای تکرار شي. سر بیره پردې د «OVERPACK» کلمه په داسې حروفو کې چې لږ تر لږه ۱۲ میلي متره لوړوالی لري، د یوځایي بستې پر شا ولیکل شي.

*یادداشت: مآخذونه او ضمایم په اصلی انګلیسی متن کی په ۴۰ او ۵۲ صفحاتو تو کی موجود دی

## • د خطرناکو انتقالي محمولو اړوند د اړتیا وړ اسناد

د لیږد په بڼه کښې د هرې عفوني مادې لپاره، یو څه مشخص او ضروري مالومات باید یوځای شي چې (DGTD) ”Dangerous goods transport document بلل کیږي. د A کټګوری (UN ۲۸۱۴, UN ۲۹۰۰) تولو انتقالي محمولو او کلینیکي او طبي پاتې شونو (UN ۳۲۹۱) ته دا DTGD اړینه ده او باید له محمولې سره د دویمي لوښي او خارجي پوښ په منځ کښې کیښودلای شي. مګر د B کټګوری بیولوژیکي مواد DGTD ته اړتیا نلري او شته لیبلونه د P٦٥٠ بستې مطابق کافي دي.

سره له دې چې د اړتیا وړ حد اقل مالومات په اکثرو حالتونو کې مشابه دي، مګر په هر هېواد کې شته قواعد ممکن مشخصو فارمتونو ته اړتیا ولري، چې باید جوړ کړای شي، لکه څرنګه چې د ”Dangerous goods declaration (DGD)“ فورم د هوایي لیږد لپاره اړین ده. له دې ورهاخوا د سړک، بحر او یا اورګاډي له لیارې د لیږد لپاره ممکن بعضې اسنادو ته اړتیا وي.

د یوې DGTD لپاره حد اقل مالومات چې دعفوني موادو د لیږد لپاره د ملګرو ملتونو د قوانینو له خوا بیان شوي، په لاندې ډول دي، مګر نور قوانین هم باید په نظر کښې ونیسئ.

- لیږونکی او لاسته راوړونکی
- نېټه
- د لیږونکو موادو مکمله توضیح
- د ځای پر ځای کولو اړتیاوې
- په عاجلو پیښو او سرټفکیټونو کښې (shipper's declaration) د ځواب ورکولو مالومات

سربېره پر دې چې په بعضو حالتونو کښې د بیولوژیکي موادو د انتقال لپاره پر لیکه (انلاین) فورمونه ډک او لیږل کیږي، مګر په دې برخه کې باید همېشه له لیږدونکي سره تفاهم وشي تر څو د لیږد پر وخت کې له مشکل سره مخ نشي. سربېره پر دې د هر رقم پر لیکه فورم د ډکولو په صورت کښې، بهتره ده ترڅو د هغې چاپ شوې بڼه هم له لیږونکو موادو سره مله شي تر څو لیږدونکی د لیږد پر وخت کې له مشکل سره مخ نشي. همدارنګه، د هوایي لیږد لپاره نور اړین اسناد لکه د الوتلو او د الوتکې د رسیدو نیټه، او د نورو انتقالي اسنادو (لکه air waybill ) لپاره د رفرنس شمېره هم اړینه ده.



# پروسیجر عملیاتی استاندارد

# STANDARD OPERATING PROCEDURES (SOPs)

| | |
|---|---|
| **نام لابراتوار:** | |
| **عنوان SOP:** عد بیولوژیکي موادو راټولول، بسته بندي، لیبلول او انتقال له ساحې څخه لابراتوار ته (په هېواد کښې دننه) | |
| **شمارهٔ سند:** | **نسخه:** ۰۰۱ |
| **مدیر مسوول:** | **تاریخ موثره:** ۰۱-۰۱-۲۰۲۱ |
| **سایر اسناد مرتبط با این SOP (...)**<br>• د حیاتي خطر د مدیریت منوال<br>• د لابراتوار د پاکولو او ضد عفوني کولو لارښود<br>• د شخصي محافظت د وسایلو POS<br>• له اوتوکلاف څخه د استفادې POS | |

| د بیاکتنې شمېره | تغییر شوې برخې | د تغیراتو توضیح | نېټه | تائید شوې په وسیله د |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

**لاښوونه:**

د عفوني عواملو لیږد د ولایتونو په منځ او له ساحې څخه لابراتوار ته د مختلفو ملي، منطقوي او نړیوالو قوانینو په وسیله تنظیمیږي. پر انسانانو او څارویو د حیاتي نقش د لرلو له امله، د انساني او حیواني منشو درلودونکي بیولوژیکي نمونې، باید له ساحې څخه په مصوونه توګه راټولې او بسته بندي کړای شي او په قانوني بڼه د تحلیل او مطالعې ځای ته، ولېږدول شي.

## • موخه

د دې سند موخه له ساحې څخه د عامې روغتیا او وترنرۍ مرکزي او نورو ملي لابراتوارونو ته د عفوني عواملو د ځای پر ځای کولو، بسته بندۍ او لیږد لپاره د طرزالعمل جوړول دي ترڅو اطمینان حاصل شي چې د دې موادو بسته بندي، لیبلول، ضدعفوني او لیږدول په موثره توګه اجرا شوي او کارکوونکي، چاپېریال او ټولنه د دې موادو د لیږد په وخت کې مصوونه پاتې شوې او یادې شوې نمونې د تشخیصي موخو په خاطر په سالمه توګه انتقال شوي.

## حوزه/پراخوالی

دا لاښود پر هغو ټولو لابراتواری کارکوونکو چې د عامې روغتیا، وترنرۍ او یا نورو تشخیصي او څېړنیزو، دولتي او یا خصوصي لابراتورونو کې کار کوي د عملي کولو وړ دی.

## مسؤلیتونه

د بیولوژیکي موادو د بسته بندۍ، لېبلولو او لېږد په پروسه کې ټول دخیل کارکوونکي باید د اړوندو ملي، منطقوي او نړیوالو قواعدو په باره کې کافی زده کړې ولري او د موضوع په اړوند کافي عملي او نظري پوهه او مهارتونه ولري.

ټول بیولوژیکي مواد باید په چټکه او موثره توګه داسې ولېږدول شي چې د بسته بندۍ، پروسس او انتقال کارکوونکو ته کمترینه خطر له ځانه سره ولري او د نمونو پشپړتیا هم وساتل شي. په ټولیزه توګه ټول بیولوژیکي مواد چې لابراتوارونو ته لېږل کیږي، د راټولو له وخته بیا د انتقال، ذخیرې او پروسس تر ټولو مرحلو پورې سمې ځای پر ځای کونې ته اړتیا لري. دا عملونه د نمونو د ځای پر ځای کولو ټولو مرحلو کښې د شخصي او حیاتي حفاظت (biosafety and biosecurity) سمو احتمالونو کی اطمینان درکوي او د با اعتباره لابراتواري نتایجو د منځته راتلو سبب کیږي. پر دې اساس، تر ټولو لمړی باید مناسبه نمونه وپېژندل او بیا راټوله کړای شي، په مناسبه بڼه بسته بندي او ولېږدول شي او په پای کې داسې پروسس کړای شي چې له یوې خوا قناعت بخشه نتایج حاصل شي او له بلې خوا کارکوونکو، ټولنې او چاپېریال ته خطر متوجه نه کړي.

په ټولېزه توګه بیولوژیکي نمونې کېدای شي په عفوني او تشخیصي موادو وویشل شي. یوه عفونې ماده له هغې مادې څخه عبارت ده چې د ژوندیو مایکروارګانیزمونو لکه باکتریاوو، ویروسونو، ریکتزیاوو او نورو عواملو درلودونکې وي او د دې عواملو له وجهې په انسانانو او څارویو کې د ناروغۍ د رامنځته کېدو کافي شواهد شتون ولري. عفوني مواد د لاندې مواردو درلودونکي دي:

- ټول کلچرونه چې په هغوی کښې عفوني عوامل موجود او یا یې د موجودیت شک وي
- انساني او حیواني نمونې چې د ناروغوونکو عواملو کافي مقدار په ځان کې ولري او د لېږد پر وخت کې له هغوی سره د مخ کېدو په صورت کې د ناروغۍ سبب ګرځي.
- نمونه له یو ناروغ څخه چې خطرناکه ناروغي ولري او عامل یې تر اوسه معلوم نه وي
- نور مواد چې په پورتنیو کټګوریو کې شامل نه دي مګر د متخصصو اشخاصو له خوا عفوني کڼل شوي وي.

تشخیصي نمونې هغو نمونو ته ویل کېږی چې له انسانانو او څارویو راټولې شوې وي لکه افرازات، وینه او د هغې اجزاوې، نسجونه او د نسجونو مایعات چې د تشخیصي اهدافو لپاره راټول شوي وي.

ټول تشخیصي مواد چې د یوې خطرناکې ناروغۍ د خپریدو په صورت کښې چې تر اوسه یې عامل معلوم نه وي، راټولیږي باید د عفوني موادو په توګه وګڼل او تنظیم شي.



## لمړني اقدامات

### ۱. مواد

- لمړني لوښي (سرپوښ لرونکو پلاستیکي لوښو ته ترجیع ورکول کیږي)
- دویمی لوښي (چسپ لرونکی پلاستیکي پاکټ، پلاستیکي ټیوب او یا سرپوښ لرونکی بوتل)
- اوبه جذبونکي مواد (اوبه جذبونکی کاغذ، کاغذي دستمال، تشناب کاغذ، پنبه)
- بیرونی کانتینر
- د لیبل وهلو مواد
- نظر د موادو رقم او حالت ته د شخصي خوندیتوب وسایل
- د لیږد اسناد

### ۲. فورمې

- د خطرناکو موادو د انتقال اظهار نامه(Dangerous Good Transport declaration form)
- air waybills

## د کار د اجرا پروسه

### ۱. راټولول

د نمونې راټولول د بیولولوژیکي عواملو د لابراتواري ارزونې لپاره لمړی شروع ده. نمونې ممکن له انسانانو، څارویو او چاپېریال څخه د مختلفو موخو لپاره لکه د ناروغۍ تشخیص، د ناروغی سرویلانس، روغتیایي سرټفکیت او یا د درملنې د فایدی له نظارت او یا واکسینیشن نه راټولیږي. کافي مهارت او لازمې توجه ته اړتیا ده تر څو د سمې نمونې په باره کې چې لابراتوار ته لېږل کیږي تصمیم ونیسو. راټولې شوې نمونې باید د نظر وړ موخو لپاره مناسبې وي او د احصایې له اړخه د با اعتباره نتایجو د وړاندې کولو لپاره باید یو څو دانې او یا یو څه مقدار لابراتوار ته ولېږل شي. د ناروغیو د تشخیص لپاره، نسجي نمونې باید د بررسۍ لاندې حالت او یا د کتل شوي آسیب سمه نمایندګی وکړی. د نمونې په راټولولو کښې، باید د ناروغۍ مرحله او د آسیب پراختیا د عملی کېدونکي آزمېښت په شمول په نظر کښې ونیول شي. د وترنرۍ په برخه او کله نا کله د عامې روغتیا په برخه کښې، د وینو د نمونو یو ترکیب د سیرولوژیکي او د تلف شوي کوربه (میزبان) نسجونه د مایکروبیولوژیکي او پتولوژیکي معایناتو لپاره ممکن اړین وي. نمونې باید په دقت او احتیاط سره واخیستل شي تر څو ناروغ او نمونې ته د زیان له رسېدو مخنیوی و شي. د امکان تر حده نمونه باید په اسپتیک بڼه واخیستل شي او د نمونو له متقاطع ککړتیا څخه مخنیوی وشي. د اخیستونکي نمونې ډول تر بررسۍ لاندې حالت، مبتلا ارګان او یا سیستم او د تشخیص لپاره د عفوني عواملو د موجودیت احتمال ته په کتو فرق کوی، (د ضمایمو د برخې جدولونه و ګورئ).

د وترنرۍ په برخه کښې، کله چې له ژوندیو څارویو نمونه اخیستل کېږي، باید ډېره پاملرنه و شي تر څو څاروي، داکټر او نورو مرسته کوونکو ته له زیان رسولو مخنیوی

وشي. نو پر دې اساس په اکثرو مواردو کې اړتیا وي تر څو لمړی څاروی مقید شي او یا هغه ته انستیزي/آراموونکي زرق کړای شي. بر سیره پر دې، کله چې له ژوندیو او یا مړو څارویو نمونه اخیستل کیږي، کارکوونکو ته د زونوز ناروغیو د لېږد خطر باید همېشه په نظر کې ونیول شي. همدارنګه پر محیطي موادو د نمونو له ککړتیا او یا د نمونې او اړونده ناروغوونکو عواملو په وسیله د چاپېریال او وسایلو له ککړتیا څخه مخنیوی وشي.

د دې لپاره چې له ناروغوونکو عواملو سره د کارکوونکو له مخ کېدو او مبتلا کېدو مخنیوی وشي، نمونې باید د منل شوو معیارونو پر اساس راټولې کړای شي. د وینې د نمونو د راټولو پر وخت کې باید د ستنې له ننباسلو مخنیوی و شي او د هغو ناروغانو نمونه چې په انتقالوونکو ناروغیو په ځانګړې توګه هغه چې د تنفس له لیارې خپرېږي اخته وي، باید په جلا شوو شرایطو کې واخیستل شي.

د بیولوژیکي نمونو د راټولولو پر وخت کښې باید لاندې معیارونو ته پام وشي:

- د نمونې د راټولولو په وخت کې د ککړتیا د کموالي په خاطر باید له اسپتیک تخنیک څخه کار واخیستل شي
- نمونې باید له هغو ساحو څخه واخیستل شي چې د عامل د پیدا کېدو او جدا کېدو احتمال پکې ډېر وي او د ککړونکو لپاره کمترینه احتمال پکې وي.
- د عامل د تجرید لپاره د نسجونو او مایعاتو نمونې نظر سوابونو ته با اعتباره دي.
- د نظر وړ نمونې کافي اندازه لابراتوار ته ولېږئ
- د مایکروبیولوژیکي او پتولوژیکي معایناتو لپاره باید د نسجونو بیلې نمونې واخیستل او لابراتوار ته ولېږل شي

په ټوله کښې که چېرې راټولې شوې نمونې لاندې ځانګړتیاوې ولري، د مایکروبیولوژیکي معاینو لپاره د منلو وړ نه دي:

- بې لېبله یا د ناسم لیبل والا نمونې
- هغه لاسته راغلي نمونې چې خپرې شوې، درز شوې او یا ماتې شوې وي.
- هغه نمونې چې ښکاره ککړتیا ولري
- هغه نمونې چې سمې ساتل شوې نه وي او له راټولولو یې ۱۲ ساعته وتلي وي.
- هغه نمونه چې د نظر وړ مشخص آزمېښت لپاره مناسبه نه وي.

### ۲. بسته بندي

د بیولوژیکي نمونو انتقال باید د لېږدونکي او لاسته راوړنکي له پروتوکولونو سره، اړخ ولګوي. د بیلګې په توګه، د نمونو په هوایي لېږد کښې د خطرناکو موادو لپاره د نمونو بسته بندي باید د ATAI (International Aviation and Transportation Association)له معیارونو سره ورته والی ولري (د ... شمېرې SOP باید وکتل شي).



یو اساسي روش دا دی چې ټولې نمونې په یوه درې مخیزې بستې کې ځای پر ځای کړو تر څو نمونه له چاپیریالي خطرونو څخه وساتلی شي. د دې کار لپاره نمونه په یوه مناسب تعقیم شوي لمړني لوښي (ټیوب، بوتل او داسې نورو) کښې ځای پر ځای کیږي. د لمړني لوښي سرپوښ باید د پارافیلم او یا د رابرټیپ په وسیله ښه محکم شي تر څو د موادو له خپرېدو څخه مخنیوی وشي. شیشه یې بوتلونه او ویالونه باید د واشر لرونکي سرپوښ درلودونکي وي. د نمونې د ایښودلو لپاره هیڅ کله له پیچکاری، دستکشې او داسې نورو ورته شیانو څخه کار مه اخلئ. مایع نمونې باید په پلاستیکي کڅوړو کې و نه لېږدول شي، بلکې د دې هدف لپاره ځانګړی ټیوب و کاروئ.

لمړنی لوښی/ټیوب باید په دویمي لوښي کې کېښودل شي او د هغې په شاوخوا کې جذبونکي مواد ځای پر ځای شي تر څو د لمړني لوښي د ماتېدو په صورت کې د نمونې مواد په دې موادو کښې جذب شي او بیرون ته خپاره نشي.

وروسته دویم لوښی په لیږدونکي (دریمي لوښي) مقاوم او لوی بکس کې کښېږدئ.

له نمونې سره سړوونکي مواد هم په دې بکس کې ایښودل کېږي، مګر دا مواد په چسپ لرونکو پلاستیکي خلطو کې واچوئ تر څو د لوښي او نمونې له تخریب څخه مخنیوی وشي. سړوونکي مواد هیڅ کله نباید د لمړني لوښي په څنګ او یا د دویم لوښي په منځ کښې واچول شي، ځکه دا کار ممکن د نمونې د یخ وهلو او تخریب لامل شي. باندنی لوښی/پوښ معمولاً له ډبل او محکم پلاستیک او یا له ډبل کاغذي بکس څخه جوړ شوی او نمونه له محیطي عواملو څخه ساتي. که وچ یخ (جامد کاربن دای اکساید د لېږد په بسته کې ځای پر ځای شوی وي، د باندني لوښي پوښ نباید په رابرټیپ کلک شي، ځکه دا کار د کاربن ډای اکساید ګاز د وتلو مانع کېږي او ممکن د بستې د تخریب او حتی انفجار او د نمونې د لمنځه تللو/چاپېریال ککړتیا سبب شي.

نو په دې توګه لیږدونکی باید اطمینان حاصل کړي چې نمونه په سمه توګه داسې بسته بندي شوې چې په مصوونه توګه او ښه حالت کښې به له هیڅ رقم آسیب څخه لابراتوار ته ورسیږي.

### ۳. لیبل وهل

سره له دې چې د ملګرو ملتونو قواعدو د بیولوژیکي موادو د بستو لیبلول نظر د هغوی کټګوریو ته تشریح کړي دي او هر یوه ته یې ځانګړی کوډ او د لیږد ځانګړی نوم انتخاب کړی (SOP ... وګورئ)، مګر هغه ټول قواعد ممکن د ولایتونو تر منځ او د عین هېواد د لابراتوارونو تر منځ د نمونو په لېږد کښې مراعات نشي. نو له دې امله په داسې شرایطو کښې د بیولوژیکي موادو د انتقالي نمونو ټول لوښي حد اقل د لاندې ځانګړنو په اساس لیبل کړئ:

- د ناروغ نوم/د فارم او فارمدار نوم
- د ناروغ/فارم آی ډي
- د نمونې ډول
- د راټولو نېټه

یاد شوي معلومات کېدای شي مستقیما د نمونو پر ویالونو او یا هم د دریم لوښي په پوښ داسې ولیکل شي چې د لېږد په وخت کې پاک نشي. نو له دې امله لیبلونه باید داسې وساتل شي چې چاپېریالي عوامل او سړوونکی مواد هغه تخریب او له منځه یو نسي.

## • هغه معلومات او اسناد چې له نمونو سره لیږل کیږي

مهمه ده تر څو هره نمونه په جلا توګه په مناسبو لارو و پېژندل شي. اړوند مالومات او د ناروغ تاریخچه باید له نموني سره یوځای لابراتوار ته ولېږل شي او دا مالومات باید په یوه پلاستیکي چسپ لرونکې خلطې کې د نمونې له لوښي څخه د باندې د دویم او دریم لوښي په منځ کې کېښودل شي. سره له دې چې لاندې توکي باید په لېږونکو موادو کې شامل وي، مګر بهتره ده چې د نمونې له اخیستونکي لابراتوار سره په دې هکله مشوره و شي چې که هغوی د نمونې لېږونکی فورم ولري، هماغه فورم باید د نمونې له راټولولو وروسته ډک او له نمونې سره ولېږل شي. د وترنرۍ په برخه کې لاندې مالومات ډېر مهم دي.

۱. د فارم د څښتن نوم او پته او هغه جغرافیایي ځای چې ناروغي هلته را منځته شوې، د فارمدار د تلفون او موبایل شمېرې سره
۲. د لېږونکي نوم، پوستی پته، ایمیل او د تلفون شمېره
۳. د هغو څارویو عمر، جنس، نوع او نسل چې نمونه ترې اخیستل شوې
۴. مشکوکه ناروغي او د اړتیا وړ آزمېښتونه
۵. د نمونې د راټولولو او لېږلو نېټه
۶. د لېږل شوو نمونو لیست او د استفادې په صورت کښې د انتقالي وسط نوم
۷. د نظر وړ ناروغۍ او څارویو مکمله تاریخچه، چې په دې کې لاندې مالومات اړین دي:

- د معاینه شوو څارویو مکمل لیست او توضیح او د تلف شوو څارویو له مرګ وروسته تغییرات
- هغه وخت چې ناروغ څاروي په فارم کې موجود وه، او که څاروي تازه وارد شوي وه، د هغوی منشاء
- د ناروغۍ د لمړۍ پیښې نېټه او وروستي واقعات د دارنګه واقعاتو مخکنۍ تاریخچه
- ګلې او رمې ته د ناروغۍ د خپریدو د احتمالی روش توضیح
- په ګله کې د شته څاروی مجموعي تعداد، د ناروغانو تعداد، د تلف شوو تعداد، د هغوی د عمر او جنس په تفکیک د علایمو د درلودونکو تعداد
- د ناروغۍ کلینیکي علایم او د دې علایمو دوام د ناروغو څارویو د تودوخې د درجې په شمول، د خولې، سترګو، پښو حالت او د شیدو د تولید اویا په چرګانو کې د هګیو د تولید ارقام
- د مالدارۍ ډول د تغذیې د ډول او له زهرو اویا زهری نباتاتو سره د احتمالي اړیکې ډول



- د فارم د څښتن د خارجي سفر تاریخچه او یا هم له نورو هېوادونو او منطقو څخه د څارویو داخلول
- ناروغو څارویو ته کوم ډول دوا او څه وخت تطبیق شوې
- که تطبیق شوې وي کوم ډول واکسین، او که تطبیق شوې وي څه وخت تطبیق شوې

## • د بیولوژیکي نمونو ناحیوي لېږد

ټولې را ټولې شوې نمونې باید زر تر زره او له نږدې لیارې لابراتوار ته ولېږل شي. که نمونې د ۲۴ ساعتونو په جریان کې لابراتوار ته ورسېږي، باید ټولې نمونې په سړو شرایطو کې ولېږل شي. له وچ یخ څخه د استفادې په صورت کښې، د نمونې بسته بندي باید د دې مادې مطابق عملي شي. د هوایي لېږد ټول شرایط باید د نړیوالو قوانینو په اساس تطبیق شي (اړونده SOP وګورئ). په ټوله کښې د ناحیوي لېږد په صورت کښې باید لاندې شرایط عملي شي:

- د نمونو له لوښو باید مواد خپاره نشي
- که یوه نمونه په ټیوب کې لېږل کیږي، د هغه سرپوښ باید ښه وتړل او رابرټیپ په واسطه کلک شي او د نمونې په بسته بندۍ کې په ولاړه توګه کېښودل شي
- بهتره ده د نمونې د ایښودلو لپاره د تاویدونکي سر والا پلاستیکي لوښي څخه استفاده وشي
- انتقالي بسته باید په لیږدونکې وسیله کښې ښه محکمه شي
- هره انتقالی بسته باید د هغې د دننۍ محتوا پر اساس په مناسبه بڼه لیبل کړای شي
- د لابراتوار درخواستي فورمونه او اضافي مالومات باید له نمونې سره ولېږل شي

## • د نمونو د لېږد پلان

دا د لېږونکي دنده ده تر څو عفوني او تشخیصي مواد په سمه توګه بسته بندي او لیبل کړي او ټول اړین مالومات یې برابر کړي. مګر د بیولوژیکي نمونو له لېږد څخه مخکې باید لاندې ټکي عملي شي:

- د عاجلو حالتونو پروسیجرونه (د مثال په توګه، د مسؤل شخص مالومات او نوم، د نمونې د تویدو پاکول، د ضد عفوني کولو پروتوکولونه او نور) باید لیږدونکي شخص ته معلوم وي
- لوښی باید هغو موادو ته چې لیږدول کیږي، مناسب وي.
- مواد باید داسې بسته بندي کړای شي چې د لیږد پر وخت کښې باید په ولاړه بڼه کېښودل شي.
- د نمونو لوښي باید په مناسبه توګه لیبل کړای شي
- د موادو د بسته بندۍ پر وخت کې باید د شخصي محافظت جامې اغوستل شوې وي
- د موادو له بسته بندۍ وروسته باید لاسونه په سمه توګه و مینځل شي

- هغه کسان چې په لاسونو کې ښکاره زخمونه او یا ګریدلی ځایونه لري، نباید په پروسه کې ونډه واخلي، که چیرې ونډه اخلي باید ښې محافظتي جامې واغوندي.
- د نمونې د بسته بندۍ پر وخت کې د آیروزول (aerosol) له جوړیدو څخه مخنیوی وکړئ
- هغه شخص چې مواد بسته بندي کوي باید اطمینان حاصل کړي تر څو د بستو سطحې د بستو له داخلي موادو پاکې وي

د بیولوژیکي نمونو سم حمل او لېږد د لیږونکي، لیږدوونکي او لاسته راوړونکي سمې هم غږۍ ته اړتیا لري تر څو اطمینان حاصل شي چې نمونې په چټکه او مصوونه بڼه لیږل شوي او پر مناسب وخت او ښه حالت لابراتوار ته ورسیږي. درې واړه لوري خپل ځانګړي مسؤلیتونه لري.

## ۱. لیږونکی

۱. د نمونې له لاسته راوړنکي سره باید له مخکې هم غږي موجوده وي
۲. د نمونې له لیږدوونکی سره باید له مخکې هم غږي و شي تر څو اطمینان حاصل شي چې:

- لیږدوونکي مواد د لیږد لپاره قبول شي
- محموله باید په ممکنه چټکه بڼه او له لنډې لیارې لابراتوار ته ولیږل شي او نباید د اوونۍ په رخصتۍ ورځو لکه جمعه کې لابراتوار ته ورسیږي

۳. د لیږد لپاره ټول لازم اسناد برابر کړئ
۴. کله چې ټول شیان تنظیم شول لاسته راوړونکي ته د نمونې له رسیدو مخکې خبر ورکړئ

## ۲. لیږدوونکی

۱. لیږونکی ته د موادو د لیږد لپاره ټول اسناد برابر کړئ او کمک ورسره وکړئ تر څو هغه په سمه توګه تکمیل او ډک کړي.
۲. لیږونکي ته د سمې بسته بندۍ لپاره لازمي سپارښتني وکړئ
۳. لیږونکی سره مرسته وکړئ تر څو د محمولې د لیږد سمه لاره انتخاب او تائید کړي.
۴. د حمل او لیږد لپاره ټول لازم اسناد له ځان سره وساتئ.

### • د نمونې د چپه کېدو د پاکولو پروسه

د بالقوه عفوني موادو د چپه کېدو له واقعې وروسته، د پاکولو لاندې پروسې باید عملي شي:

۱. محافظتي جامې د دستکشو، ماسک، عینکو او د اړتیا په صورت کې د شخصي محافظت نور وسایل واغوندئ
۲. د موادو د چپه کېدو ځای د یو کاغذي دستمال او یا ټوټې په وسیله پټ کړئ
۳. د عفوني ضد موادو کافي اندازه د کاغذي دستمال او یا اړوندې ټوټې د پاسه واچوئ



(معمولا د سودیم هایپوکلورایت ۵٪ محلول مناسب ده)، مګر په طیاره کښې د موادو د چپه کېدو په صورت کښې، د muinomma yranretauq عفوني ضد موادو څخه باید کار واخیستل شي.
۴. لمړی عفوني ضد مواد د چپه کېدو د ځای پر شاوخوا واچوئ او د مرکز په لور حرکت ورکړئ.
۵. له ۳۰ دقیقو وروسته، مواد له ساحې څخه پاک کړئ. که له موادو سره یوځای شیشه یې وسایل لکه ټیوب او یا نور وسایل هم مات شي، د یو خاک کش او یا د مقوا د نازکې ټوټې په واسطه هغه راټول او د اشغالو په یو مناسب سطل کې یې واچوئ.

### • د بیولوژیکي موادو ذخیره او پروسس

لابراتوار ته د موادو له رسېدو وروسته، بیا هم باید مواد په کامل احتیاط سره تنظیم شي. د داسې احتیاطي اقداماتو په دوامداره توګه په نظر کښې نیول له ناروغوونکو عواملو سره د مخ کېدو احتمال تر ډېره را کموي. سره له دې چې اکثره باکتریایي وسطونه د لابراتوار د میز پر سر په مصوونه بڼه کرل کیدای شي، مګر د لابراتوار، کارکوونکو او ټولنې د ککړتیا د خطر د راټیټولو په خاطر دا کار معمولا په بایوسفټي کابینټ کې تر سره کېږي. د مایکوباکتریوم توبرکلوز درلودونکو نمونو او یا د تنفسي لیارې د نورو لیږدیدونکو عواملو د کرلو لپاره له بایوسفټي کابینټ څخه استفاده جبري ده. کله چې د ناروغۍ عوامل په لابراتوار کښې خپاره شي، په اړوندو لابراتواري عفونتونو د لابراتوار د کارکوونکو د اخته کېدو خطر زیاتیږي چې په دې ځای کښې ناروغوونکي عوامل لکه مایکوباکتریوم توبرکلوز، د بروسلا انواع، فرانسسیلا تولارنسیز، یرسینیا پستیس، هستوپلازما کاپسولاتوم او یو تعداد نور ډېر خطرناک حسابیدای شي.

هغه کلچرونه چې په هغوی کې دهمداسې عواملو د موجودیت احتمال شته، صرف په class II بایوسفټي کابینټ کې د ۳ سطحي بایوسفټي شرایطو لاندې کرل کېدای شي.

د تشخیصي آزمېښتونو د حساسیت د لوړېدو په خاطر، ټولې راټولې شوې نمونې باید د یخ د بستې په بڼه (په منفي ۷۰ سانتي ګراد درجو کې) او له وچ یخ سره یوځای مګر په فورمالین کې د تثبیتو شوو نسجونو او په شیشه یي ټیوبونو کې (مکمله وینه، له EDTA او یا هیپارینو سره وینه، سروم او نور) د راټولو شوو نمونو په استثنأ، ولیږدول شي. که چېرې د نمونو په یخ نیول ممکن نه وي او دا نمونې له راټولولو څخه وروسته له ۱ تر ۲ ورځو پورې تر ارزونې لاندې نیول کیږي، کولای شو په ۴ سانتي ګراد درجو په یخچال کې یې وساتو. تثبیت شوي نسجونه باید په جلا بکسونو کې د کوټې په حرارت کې راټول او ذخیره شي. په شیشه یي ټیوبونو کې راټولې شوې نمونې باید په ۴ سانتي ګراد درجو کې په یخچال کې وساتل شي او د یخ له بستو سره یوځای ولیږدول شي. د مختلف ډوله بیولوژیکي نمونو د لیږد او ذخیرې شرایط په ۱ جدول کې توضیح شوې دي.

*یادداشت: مآخذونه او ضمایم په اصلی انگلیسی متن کی په ٦٢ او ۷۰ صفحاتو تو کی موجود دی


10X

Global Health Development

EMPHNET
The Eastern Mediterranean Public Health Network

GHD|EMPHNET: Working together for better health

Global Health Development (GHD) is a regional initiative created to support countries in the Eastern Mediterranean Region (EMR) and to strengthen their health systems to respond to public health challenges and threats. GHD was initiated to advance the work of the Eastern Mediterranean Public Health Network (EMPHNET) by building coordinating mechanisms with Ministries of Health, International Organizations and other institutions to improve population health outcomes. As an implementing arm to EMPHNET, GHD aligns its strategies with national policies and directions. Serving as a collaborative platform, GHD|EMPHNET is dedicated to serve the region by supporting national efforts to promote public health policies, strategic planning, sustainable financing, resource mobilization, public health programs, and other related services.

Tel: 5519962-6-962+
Fax: 5519963-6-962+

www.globalhealthdev.org
info@globalhealthdev.org

Shmeisani, Abdallah Ben Abbas Street, Building No 42,
P.O.Box: 963709, Postal Code: 11196 Amman, Jordan